PROPERTY OF ACKU

هفته نامه

دجهاد هنداره

مـراة الجـهـاد

لومړی کال (۲۱) گڼه د۱۳۶۹هـ ش. کال ددلوې (۱۷)

گورباچف به محافظه کاران متعصب کمونست تسلیم میشود

دوکتورین کهنه بریژنیف درروسیه احیا مي گردد .
گرباچف روزتاروزبه جناح راست جدید روسیه تکیه نموده وبان سرتسلیم فرود مي اورد ، این جناح ازصاحب منصبان اردو ، سران کي ، جي ، بي وبیروکراتان کمونست ترکیب یافته ویك جریان عمیقاً محافظه کارومتعصب میباشد.
این مطالب رامبصر روزنامه نیویارك تایمزنگاشته وعلاوه نموده است که جریان راست روبه

درصفحه ۸

دکندزپرهوایي ډگر مجاهدینو درانه عملیات ترسره کړل

په اتم مخ کي

تکره جیولوجست داکتر شلوڅروایي :

روسانودافغانستان پهطبیعي منابعوقبضهلگولي

(۳) مخ

«زندگي» معتبره اونیزه لیکي :

دالحاج حقاني ترمشرۍ لاندې دروسانو په مقابل کې ترټولو سخت اوحیرانوونکي جنگونه شویدي

دوهم مخ کی

دخفجي سیمه بیرته متحدینو ونیوله

دبغداد له راډیو څخه په خپورشوي یو پوځي بیان کې ویل شوي دي چې عراقي پوځونو چې دسعودي عرب په سیمه خفجي باندې کومه قبضه کړې وه .
هغه یې خوشي کړې اوبیرته په کویټ کې خپلو ځایونوته راستانه شوي دي .
دمتحدینو ددې دعوې چې دخفجي سیمه موږ دعراقي پوځونو څخه خالي کړه دعراق لخوانه په لمړي ځل په یو سرکاري اعلان کې ویل شویدي چې متحدینو په ټوله شپه کې دعراق په ښارونو ۹٤ هوایي بریدونه وکړل اوعراقي پوځونو په دې شپه دمتحدینو ۲۰ هوایي الوتکې اوپاټوغندی راغورځولي.

دنوبل دجایزې دورکولو غوښتنه

سږکال لسوتنو ته دنوبل دجایزې دورکولو غوښتنه شویده چې په دې کې دامریکاجمهوررئیس جارج بش اودجنوبي افریقا دتوریوستو مشر (نیلسن منډیلا) نومونه هم شامل دي دنوبل جایزې مشر گاټرلیند ستاو وویل چې دجمعې دورځې پورې چې څومره ټیلفونونه موږته راغلي دي نو په ټولو کې جارج بش ته دا«نډرا وستو»په وجه دجایزې ورکولو غوښتنه شوې وه .
دیادونې وړده چې تیرکال دغه جایزه دلکونو افغانانو قاتل گورباچوف ته ورکړل شوې ده .

دتخارپه لویه لاردمجاهدینو عملیات

دتخارولایت مجاهدینو دیولړ عملیاتو په ترڅ کې چې ددې ولایت پرلویه لاره یې ترسره کړي دمزدور رژیم اوه تنه عسکر وژلي او پنځه کسان یې ټپیان کړي دي.
دغه خبر زیاتوي چې ددې عملیاتو په ترڅ کې دملحد رژیم یوزغره وال ټانك له مینځه لاړ اوله غنمو ډکه یوه لارۍ دمجاهدینو په لاس ولویده.

پنځوس زره هوایي برغلونه

واشنگټن :
دامریکا دعملیاتو قوماندان اعلان کړی چې اتحادي پوځونو تراوسه پورې پر عراق (۳۵) زره الوتنې کړي او په خلیج کې دامریکا له بحري بیړیو نه (۲۵.) کروزمیزایل توغول شویدي ، نوموړي قوماندان ویلي دي چې پرعراقي مورچو باندې تراوسه پورې پنځوس زره هوایي برغلونه شویدي .

عملیات موفقانه مجاهدین برپوسته های شاهراه بلخ وجوزجان

خبرهای رسیده ازمنابع جهادي ولایت بلخ حاکیست که مجاهدین دلیر این ولایت طی عملیات موفقانه که بر پوسته های شاهراه بلخ وجوزجان انجام دادند ۱۲تن از افراد رژیم مزدور رابه هلاکت رسانیده وتعدادی ازانها را براسارت گرفتند .
طبق همین خبر مجاهدین یك عراده ټانك دشمن راتخریب وبیش ازده میل اسلحه انها راهمراه بامهمات ان به غنیمت گرفتند .

زلزله شب جمعه گذشته تلفات وخسارات فراوان به باراورد

صفحه (۷)

(۲۰) تنه مسلمان کشمیریان شهیدان شول

سرینگر:
دنیول شوي کشمیر په اننت ناگ اوکپواره کې هندي پوځونو په تش لاسو مسلمانانو گولۍ وچلولې چې په نتیجه کې (۲۰) تنه مسلمانان شهیدان شول .
دبي بي سي راډیو دخبرسره سم دجمعې په ورځ هندي پوځونو دیوه موټر دربور شهید کړ چې بیا وروسته کشمیري مسلمانان په مظاهره راووتل اوبیاهندي پوځونو پر مظاهرینو گولۍ وچلولې .

په یمن کې دفرانسې دسفارت خواته دبم چاودنه وشوه

صنعا-ددلوې ۱٤مه :
په یمن کې دفرانسې دسفارت دودانۍ ترمخ دبم یوه چاودنه وشوه ، ولې کوم ځاني اومالي تاوان یې ندی رسولی .
دغه خبردمصر خبري اژانس خپورکړی ، اوویلي دي چې اوس ددغه سفارت دعمارت ځلورخواوې دپولیسو لخوا ترمحاصرې لاندې دی .
همدارنگه دترکیې یوه خبري اژانس خبرورکړی وُچې دپنجشنبې په ورځ په صنعا کې دامریکې ، ترکیې اوجاپان دسفیرانو په هستوگنځیو باندې دبمونو حملې شوي دي .

دروسیې دجارجیا په ایالت کې حالات بیا کړکیچن شول

لندن:
دروسیې دجارجیا په ایالت کې یو واربیا حالات کړکیچن شول ویل کیږي په تازه نښتو کې چې دمسلمانانو اوعیسایانو ترمنځ پیښ شوي د(۲۰) څخه زیات افرادوژل شوي ، ددفاع وزارت اوکورنیو چارو وزارت ویندوی ویلي چې دحالاتو دښه کیدو لپاره باید پوځي اقدامات وشي ، خودبلې لورې ویل کیږي چې دمرکزي حکومت خینو غړو دپوځي اقداماتو غندنه کړې اودایې ددې جمهوریتونو پرخلاف یوعمل بللی دروسیې دجارجیا اوخینی نور ریاستونه داوږدې مودې راهیسې دخپلې ازادۍ دلاس ته راوړلو په لټه کې دي .

سوریې اوه امریکني پیلوټان بیرته امریکې ته سپارلي

دمشق - ددلوې ۱۵مه :
دبغداد راډیو دسوریې په حکامو باندې تورلگولی چې هغوی اوه امریکني پیلوټان په دمشق کې دامریکې سفارتخانې ته ورسپارلي دي .
دیادونې وړده چې داهغه پیلوټان دي کوم چې دعراق دادعا مطابق دهغوی الوتکې دعراق په غیر پوځي سیمو باندې دبمباریٔ په دوران کې راغورځول شوي دي دسوریې حکومت تراوسه پدې هکله څه ندي ویلي .

عراقي پوځونه دسعودي سرحد څخه په شاوتمبیدل

امریکا اودهغه متحدین دسعودي سرحد ته نږدې دعراقي پوځونو دنقل اوحرکت دبندولو ادعاکړیده دمتحدینو دپوځ یوویاند وویل چې عراقي پوځونو ته مو دهوایي بمبارۍ اودتوپونو دزور په وسیله ډیر زیات ځاني اومالي نقصان رسولی دی اوددوی ډیر ټانکونه اوپوځي لارۍ مو تباه کړیدي .

دعصمت مسلم اودهغه دولسو په هسکله څو خبري

۳مخ

دصدام حسین پرخلاف یوه کودتا ناکامه شوه

ریاض ۲ فبروري :
دصدام حسین پرخلاف یوه کودتا ناکامه شوه دجده راډیو په خپل رپوټ کې ویلي داکودتا دهوایي قواو دپیلوټانو له خوا دهغوی دعمومي قوماندان تروژل کیدووروسته پیل شوه ، دراډیو دوینا سره سم پیلوټان دکودتا ترناکامیدو وروسته ایران ته وتښتیدل ، ویل کیږی دې پیلوټانو دصدام حسین داوسیدلو پرځای دبمبارۍ کوښښ هم وکړ خوبریالي نشول .

سرمقاله

دخلیج جگړه داسلامي امت پرضد - استعماریوه بله حربه

صدام چې داسلامي امت له پاره دکوم مصیبت اوکړلې هغه نن سبا دمسلمانانو دمادي اومعنوي شتمنیو دسیزلو په لارکې ژېغرانده لمبې یې اولگیا دی داهرڅه په خاوږو اوایرو بدلوي .
صدام پوره ۸ کاله له ایران سره دیوې خونړۍ اوتباکوونکې جگړې له لارې داسلامي امت له پاره داسې فاجعې رامنځ ته کړې چې دامت طبیعي زېرمې ، شتمنۍ اوصلاحیتونه یې داور خوراك وگرځول .
پداسې حالاتو کې چې اسلامي امت له سختو گواښونو سره مخامخ ؤ اودامت پرتېر دافغانستان ، فلسطین اوکشمیر زخمونو دوینو داري وهلې صدام پرایران برغل وکړ اودامت پردردونو اوکړاوونو یې یو بل درد اوپرهر ورزیات کړ .

په اتم مخ کي

یوازې په پخواني جهاد باندې به موږ الله تعالی ونه بښي بلکې دژوند ترپایه پورې په اسلام ، ایمان او جهاد کې پاتې کیدل ضرور دي

«الحاج حقاني»

دجهاد هنداره

موسس : الحاج مولانا جلال الدين حقاني

دتاسيس كال : ۱۳٦۹ هـ ش

دالحاج حقاني ترمشرۍ لاندې دروسانو په مقابل کې...

له لاهوره خپرېدونکې اونیزې «زندګي» دروان میلادي کال دجنورې میاشتې په وروستۍ ګڼه کې دافغانستان دروانو حالاتو په اړه دخپل خصوصي نماینده یومضمون خپور کړی چې موږ یې دلته دیوې برخې ژباړه لوستونکو ته وړاندې کوو.
(اداره)

دافغانستان دجهاد دسترو جرنیلانوڅخه یوهم قوماندان مولوی جلال الدین حقاني دی په کومه سیمه کې چې دوی جهاد کړی هلته ترټولوسخت اوحیرانوونکې جنګونه ترسره شوي اودغه ګردجنګونه دحقاني ترمشرتابه لاندې شویدي ، لس کاله وړاندې چې ماکوم حقاني لیدلی ؤ هغه مې هیڅکله نه هیرېږي ددوبي په سخته ګرمۍ کې نفلي روژه په خوله جلال الدین حقاني داسې ښکاریده لکه دکومې خانقا ملنګ اودرویش اودکومې مدرسې خاموش طبعه استاد مخ یې دزهد اوتقوی له نوره ځلیده ، دهغوی په لیدو داسلام دصدر دمسلمانانو یادونه دسړي په سترګو کې ځلیدل .

اوس هم دقوماندان حقاني بڼې اوڅیرې څه ډېر توپیر نه دی موندلی ، خودڅیرې سپینوالی یې دجهاد دسنګرونو دګرمۍ ، یخنۍ اودوړوله امله یوڅه تغیر پیداکړی اوپه توره ږیره کې

> **قوماندان جلال الدين حقاني وويل :**
> **موږ پخپلو مقصدونو کې ترډېره حده برى ترلاسه کړی ، مجاهدين سره متحد شوي ، کوچني ښارونه يويو زموږ دکنټرول په دايره کې داخليږي اودلويو ښارونو کلابندي اومحاصره هم روانه ده ، څښتن تعالى دحق دلارې دمجاهدينو ملګرى دی اووروستۍ فيصله دخداى (ج) په واك کې ده .**

بې سپين ږکي اوس راڅرګندشوي دي .

دغه دعقابي سترګو اونوراني څیرې خاوند تیره اونۍ په پیښور کې دخپلې پوځي کړنلارې اوفعالیتونو څه برخې رابرسیره کړې . دڅوارلس قوماندانانو په ملګرتیابي یومطبوعاتي کنفرانس ته دوینا په وخت کې وویل :

دنومبر ۱۹۹۰ نه راپدیخوا دافغانستان په هره برخه کې داتفاق اویووالي فضا رامنځ ته شوې ، ټول جنګي فعالیتونه ترګډ پوځي پلان لاندې ترسره کیږي ، داګډ پوځي پلان څه ډول دی ؟

ددې پوښتنې دروښانه کولو په بهیر کې نوموړي وویل چې دګډ پوځي پلان محور په دریو ټکو ولاړدی:

الف: ددښمن هغه ځایونه چې نسبتاً کمزوري دي په ښبنه کول اودغهو ښارونو دمحاصرې کړۍ ورو ورو ټنګول ترڅو په دغوښارونو کې میشته خلك له زیات زیان سره مخامخ نشي.

ب : دمجاهدینو تګ راتګ دلارو امنیت ټینګول چې مجاهدین یې له څه ډاراوخطر نه دهیواد ګوټ ګوټ ته راتګ وکړای شي .

ج: جهادي قوتونه یو موټی کول اوداختلافونوله منځه وړل.

قوماندان جلال الدین حقاني وویل موږپخپلو دغو مقصدونو کې ترډېره حده بری ترلاسه کړی ټول مجاهدین متحد شوي ، کوچني ښارونه یو یو زموږ دکنترول په دایره کې داخلیږي اودلویو ښارونو کلابندي اومحاصره روانه ده څښتن تعالی دحق دلارې دمجاهدینو ملګری دی اووروستۍ فیصله دخدای(ج) په واك کې ده .

وحدت

دروسانو ترټولو دروند اعتراف

په افغانستان کې دروسانو پوځي ماته اوددوهمې نړیوالې جګړې دفاتح روسي سره پوځ په شاتمبول اوس دافغان اوروس دتاریخ یواورد باب اوزموږ دعصر یوڅرګندواقعیت جوړوي چې درنې اغیزې یې هیچاته دسترګو پټولو چانس نه ورکوي .

پدې نابرابره جګړه کې چې نه یوازې دوه پوځي ځواکونه بلکه اصلاً دوه فکري نظامونه جنګیدل ، پوځي ماته دروسانو دفکري ماتې زیږنده وه ، ولې شاید ډیروخلکو ته دروسانو دفکري ماتې احساس او درك تراوسه هم شکمن وبریښي ولې په افغاني جګړه کې دنړۍ دکمونستي بلاك دپه اصطلاح قهرمانو سرو پوځیانو په مسلمانیدو اودافغاني مجاهدینو په لیکو کې دروسي یرغل په خلاف دهغوی په دریدو باندې دګورباچوف دمشاور یوري ګن کوفسکي په څرګند اعتراف سره به شاید دروسانو دفکري ماتې په هکله هم نور چاته څه دشك ځای پاتې نشي ، پدې هکله یوري ګن کوفسکي دمسکو د NEW TIMES له اونیزې سره په مرکه کې داسې اعتراف کوي:

سوال : له لویدیزو خبرځایونو څخه دترلاسه شوي شمیرنې له مخې له ٦۰ څخه تر ۷۰ پورې روسي جنګي اسیران په پاکستان کې دي ، دهغوی دازادۍ لپاره په کابل کې څه لازم اقدامات ترسره شوي ؟

ددې اسیرانو په ازادۍ کې دکابل رژیم اومجاهدین کوم یو زیاته خواخوږی لري ؟

ګن کوفسکي چې پدې هکله دمجاهدینو لوړانساني چلند رحم عاطفه اودهغوی ټول ممکني هلې ځلې نشي پټولای داسې ځواب ورکوي ؟

« دهغو معلوماتو له مخې چې زه یې لرم په پاکستان کې هیڅ روسي جنګي اسیران نشته ، ولې موږباید یوڅه په نظر کې ولرو اوقبول کړو چې زیاتو روسي جنګي اسیرانو اسلام قبول کړی دی ، هغوی روسي تابعیت پرې ایښی دی اوپه حقیقت کې هغوی اوس دجنګي اسیر حالت نلري زه یو شمیر عکسونه لرم چې یوه امریکایي ملګري چې زیات وخت یې په پیښور کې دمخالفینو په کمپونو کې تیر کړي،راکړي کوم چې داډول دجګړې روسي اسیران چې مجاهدینو نیولي ښکاره کوي ، داسې خلك هرچیرې پیداکیږي په هرصورت هلته څیني پخواني افسران اوعسکر شته چې تراوسه دجنګي اسیرانو په څیر پاته دي ، ولې هغوی په پاکستان کې ندي شاید هغوی تقریباً دوه کیلو متره دننه په افغانستان کې وي ، څنګه چې دمجاهدینو یو شمیر مشرانو هم ماته وویل داچې دهغوی دازادۍ په هکله څه کیږي اوکه نه باید ووایم چې زه په رسمي فیصلو کارنلرم خویو څوك باید وي چې په رسمي ډول ددې کارمسئولیت په غاړه واخلي .

مجاهدینو دروسي جنګي اسیرانو یو لست دروسي اسیرانو دازادۍ لپاره دهماهنګۍ کمیټې ته راولیږه ولې ایا موږ هغوی ته په ځواب کې داسې یولست تراوسه استولی؟

نه ! موږ نه یو توانیدلي چې ورته ګام پورته کړو ، ځکه موږ ددوی داسیرانو په موقعیت نه یو خبر چې چیرې دي »

یوري ګن کوفسکي دیوه روسي سیاست پوه په حیث په څرګنده دمجاهدینو ښه نیت او دروسانو اودکابل رژیم مقابلو بدونیتواو ناروا ته ګوته نیسي .

یوري ګن کوفسکي دیوه روسي په حیث پوهیږي چې سره لدې چې مجاهدین له روسي جنګي اسیرانو سره انساني چلند کوي اودهغوی دحال په هکله روسانو ته کامل معلومات راټولولای شي خو برعکس دمجاهدینو

په اووم مخ کې

جنگ خليج واينده عراق و كردستان

سميع الله «تازه»

جنگ خلیج برخلاف میل وارزوي ملیونها انسان سراسر جهان اغازیافت واکنون خلاف توقع ستراتیژیست هاي متحدین وارد هفته چهارم خویش گردید درطول چارهفته متحدین طي هزاران ماموریت جنگي هزاران تن بم برکشورعراق فروریختندوموجب خسارات وویراني هاي فراواني شدند ولي هنوزهم پایان جنگ مبهم ونامعلوم است وکسي نمیداند که چه مدت دیگر ادامه یافته وپایان ان چگونه خواهد بود .

سیاستمداران دورفکر سرازهمین اکنون درباره اینده عراق واینده منطقه فکرمي کنند زیرابرهم خوردن توازن نظامي وسیاسي میان کشورها درمنطقه موجب بروزحوادث وحتي تغیرات جغرافیایي کشورهامیشود چنانچه اشغال بي دلیل کویت ازطرف عراق موجب جنگ خطرناك درمنطقه خلیج گردید بهرحال درپایان جنگ سیاستمداران وستراتیژیست هاي نظامي بازهم تغیرات دیگر وبیشترراحدس میزنند.

عراق که جنگ جاري را نبرد نبردهانامیده وباقواي بیست وهفت کشورمقابله مي کند ناگذیر است باتمام قوادرجنگي که خودعاملش بود درگیرشود درفرجام نبرد اگرقبول کنیم که عراق پیروزگردید درانصورت کویت جزخاك عراق گردیده ساحاتي ازخاك عربستان سعودي رانیز جزقلمرو خود خواهد ساخت همچنان تغیراتي سیاسي نیز درمنطقه بوقوع خواهد پیوست که مساله فلسطین بیکي ازاهمترین مسایل‌مبدل خواهد شد که ممکن است باردیگر بیك نقطه جنگ مبدل شود اما درصورت شکست نظامي عراق برعلاوه نابودي زیربناي مادي واقتصادي،وحدت ملي وتمامیت ارضي عراق هم مورد تهدید جدي قرارخواهد گرفت .

انچه که امروزبه وحدت عراق بعد ازجنگ خطر ناك معلوم میشود مساله کردستان وحس انتقام گیري کردها ازدولت عراق است زیراصدام حسین درپایان جنگ باایران بااستعمال بم هاي مسموم کننده هزاران کرد راکه خواستار خودمختاري بخش کردنشین شمال عراق بودند ازمیان برد .

> انچه که امروز به وحدت عراق بعد ازجنگ خطرناك معلوم میشود مسئله کردستان وحس انتقام گیري کردها ازدولت عراق است . زیراصدام حسین درپایان جنگ باایران بااستعمال بم هاي مسموم کننده هزاران کردها راکه خواستار خودمختاري بخش کردنشین شمال عراق بودند ازمیان برد

مساله کردستان ازدهه پنجاه قرن ما اغازگردید ومردم کردکه درترکیه ،ایران ،عراق ،سوریه اغلباًدرروسیه ، لبنان اقلاً موجود اند میخواهند داراي یك کشور واحد ومستقل باشند کردها درشمال عراق دراغازبه رهبري مصطفي برزاني به فعالیت هاي مسلحانه جدایي طلبانه پرداختند شاه سابق ایران که روابطش بابغداد بنابراختلاف نظر بر استفاده ازابراه خلیج خراب بود برزاني راتقویت مي نمود .

کردهاي ایران نیز که درغرب انکشور واقع اند گاهگاه هواي ازادیخواهي برسرشان مي زند وانها نیز دست به اسلحه برده دربرابر دولت ایران قرارمیگیرند چنانچه اززمان جنگ هشت ساله ایران وعراق نیز کاربرهمین منوال بود .

کردهاي ترکیه باداشتن هشت ملیون نفوس یك رقم‌درشت نفوس تقریباً پانزده ملیوني کردراتشکیل میدهند دولت ترکیه قبل ازانکه جنبشي درمیان کردهاي ترکیه سربلند کند باعمل نظامي منکوب نموده است .

باین ترتیب کردهاي این سه کشورطي سالهاي گذشته به فعالیت هاي سیاسي ونظامي جهت کسب ازادي دست زده اند ، کردهاي عراق ازانجایکه بیشتر تحت فشاربوده اند وازسالهاي قبل به فعالیت هاي سیاسي ونظامي دست برده اند داراي تجارب وسیع وسیاستدانان ورزیده اند این کردها سرازهمین حالا پیرامون اینده ملیت خود که درچند

بقیه درصفحه هفتم

تکړه جیولوجست ډاکتر شلوډر وایي:

روسانو دافغانستان په طبیعي منابعو قبضه لګولې

دکابل مزدور رژیم دبهرنیو چارو وزیر یوه ویندوی څه موده مخکې اعلان کړیدی چې په روسیې به دافغانستان دطبیعي ګاز دخرڅلاو تم شوی جریان بیا پیل کوي .

دامریکې دنبراسکا دپوهنتون دجیولوجي اوجغرافیې دڅانګې آمر ډاکتر شلوډرچې دافغانستان دطبیعي زیرمو په هکله یې ژورې اوهراړخیزې څیړنې کړې پدې باب داسې وایي :

دمحمد داؤد دحکومت څخه وروسته کابل ته ګڼ شمیر روسي جیولوجستان ورغلي ؤ چې دجیولوجي څانګه ټوله دهغوی په لاس کې وه.

که څه هم په افغانستان کې دطبیعي منابعو په هکله تل داخبره کیده چې موږ دهرڅه په درلودلو سره هیڅ نلرو ، خوحکومتي مقاماتو دروسانو اودهغوی دګوډاګیانو دویرې سپینې خبرې نه شوې کولای ، خلکو ته دا موضوع په ډاګه شوې وه چې روسان دافغانستان طبیعي ګازپه نیمه بیه اخلي اودګازداندازې دمعلومولو میټرونه یې هم دآمو دسیند پورې غاړه دروسیې په خاوره کې لګولي دي .

داهم څرګنده شوې وه چې روسان دنورو طبیعي منابعو لکه تیلو اوقیمتي ډبرو برسیره یورانیم هم دافغانستان نه انتقالوي .

په کابل کې دبهرنیو چارو وزارت ویندوی ویلي دي چې پدې وروستیو کې روسي ماهران مزارشریف ته رسیدلي څو هغه پایپ لاینونه بیرته فعال کړي چې پخوا به طبیعي ګازپکې روسیې ته لیږل کیده کله چې روسان د۱۹۸۹ کال په فبرورۍ کې دافغانستان څخه وشړل شول نوېدغو پایپ لاینونو کې دګازو واردول هم بند شوي وو.

دنبراسکا دپوهنتون دجیولوجي اوجغرافیې دڅانګې آمر زیاتوي چې افغانستان دامریکې دتکزاس له ایالت نه لوی نه دی اوافغانستان دخپل واړه مساحت په اړوند سبایسته زیاتې طبیعي منابع لري ، که څه هم پدې هیواد کې دفارس دخلیج په اندازه زیات تیل نه شته مګر له ډیرو هیوادونو څخه چې دافغانستان نه څوځو ځله لوی دی ، افغانستان زیات طبیعي ګازاوتیل لري چې تراوسه پورې چندان استفاده ترې نده شوې.

ډاکتر شلوډر وایي چې دطبیعي ګازنه علاوه په افغانستان کې طلا اونور فلزات لکه کرون ، مس او اوسپنه هم شته برسیره پردې قیمتي ډبرې اوغمي هم لري .

خوله بده مرغه دغه طبیعي منابع څکه تراوسه پورې دافغانستان دخلکو په دردندې لګیدلي چې حفریات یا کیندل یې دروسانو په لاس کې ؤ اوهغوی هرڅه له افغانانو نه پټ ساتلي دي چې دافغانستان پخوانیو اواوسنیو حکومتونو هم پدې برخه کې پخپله خوله مهرونه لګولي اوڅه یې ندي ویلي .

ډاکتر شلوډر دلوګر دعینک دمسودکان په باره کې وایي : په افغانستان کې دطبیعي منابعو ترټولوغټه زیرمه دمسو کان دی ، پخپله روسي جیولوجستانو هم ویلي چې دلوګر دعینک دمسوکان دومره غټ دی چې په ټوله نړۍ کې ساری نلري .

دافغانستان دطبیعي منابعو سره دروسانو دعلاقمندۍ په هکله شلوډر وایي : لمړی داچې روسانو له دوو سوونه زیات جیولوجستان افغانستان ته لیږلي ؤ ، بل دلیل یې دادی چې روسانو ډیر په جزئیاتو دافغانستان دشمالي سیمو توپوګرافي نقشوته انکشاف ورکړی ؤ ، دغو جیولوجستانو د۱۹۶۰ په لسیزه کې خپل تحقیقات پیل کړل اود ۱۹۷۰ دلسیزې په وروستیو کې ښه پوهیدل چې په افغانستان کې څه ډول منابع شته څکه دوی دافغانستان ټولې سیمې په طبیعي منابعو پسې لټولې اونقشو ته یې دفلزاتو،قیمتي ډبرواوغمیو دپیداکولو لپاره ډیر انکشاف ورکړی ؤ اوهم یې دافغانستان په جیولوجي اوکارتوګرافي څانګو کې ځاله کړې وه .

> په افغانستان کې دطبیعي منابعو ترټولوغټه زیرمه دمسو کان دی ، پخپله روسي جیولوجستانو هم ویلي چې دلوګر دعینک دمسوکان دومره غټ دی چې په ټوله نړۍ کې ساری نلري .

ډاکترشلوډر چې یو تکړه جیولوجست دی زیاتوي : څوک چې غواړي دیوه هیواد په اقتصاد دطبیعي منابعو په بنیاد قبضه ولګوي نودجیولوجي اوکارتوګرافي په څانګو کې خپل خلك اچوي چې روسانو هم په افغانستان کې داکارترسره کړ.

شلوډرپدې باب چې روسانو به دمحمد داؤد ، تره کي ، امین اوببرك رژیمونو ته ویل چې دمزارشریف تیل په پایپ لاین کې نه شي تیریدی څکه چې دتیلو دغه زیرمې کافي فشار نلري ، داسې وویل : په ۱۹۷۸ کال کې چې زه په کابل کې وم کنیډي نهاس هم دکابل دملګرو ملتو په مؤسسه کې کارکاوه . نوموړي دبریښنا اوطبیعي ګاز دانتقال یوداسې سیستم طرحه اوډیزاین کړی ؤ چې دترکستان اوقطغن نه بریښنا اوطبیعي ګاز ټول افغانستان ته ولیږدول شي اوهم یې دملګرو ملتونو ادارې ته داسې طرحه وړاندې کړې وه چې دآموپرسیند دې دبریښنا توربینونه ودرول شي دګازپایپ لاینونه اودبریښنا مزي دې ټول هیواد ته وغزول شي کله چې روسان پدې طرحې پوه شول ډیر قهرجن شول اوکنیډي نهاس یې په کابل کې خپل سفارت ته وغوښت اوخبرداری یې ورکړ چې پدې برخه کې پخپله خوله مهر ولګوي اونورڅه ونه وایي

ډاکتر شلوډروایي روسانو خپل ملك ته څکه لومړی دطبیعي ګازولیږدول شروع کړل چې یو خو ترتیلو یې انتقال آسانه دی اوبل داچې یو ځل چې دتیلو دمعدن څخه ګاز وایستل شي نوبیا دتیلو پمپ کول هم سختیږي څکه چې طبیعي ګازپخپله فشارلري اودتیلو په پمپ کولو کې مرسته کوي .

عبدالوکیل

دعصمت مسلم اودهغه دډلې په هکله څوخبرې

کله چې ددې رسوایی خبر په پراخ ډول خپورشونوبیا روسانو ددولتي امنیت وزارت اړونده مقاماتوته دستورورکړ چې دنوموړو ځوانانو په عوض کی سپین ږیرتوب ته نږدې د«واد» مربوط هغه کارمندان (مزدوران) ورولیږي چې په پښتو ژبه هم ښه پوهیږي نوبیا همداسی وشول خوددغو بوډاګانو احوال ترلاسه نه شو چی دعصمت ملیشی به څه پری کړی وي ، اما حالات په تغیر اوتحول کې وو دعصمت اوملیشی دژوند طرزاوکړو وړوبه همغسی چی وه پاتی نه شوه .

په ۱۳۶۶ هـ ش کال کې روسانو تصمیم ونیوه چې دکندهار ولایت دارغنداب په ولسوالۍ کې هغه مجاهدین ترخپلو وحشي حملو لاندې ونیسي اوله منځه یې یوسي کوم چې ددې ولسوالۍ غرب خواته په آسمانڅکو غرونو کې یې استوګنه درلوده ددې لپاره چې روسانو اخیرنی امکانات پکاراچولي اوګټه یې ورڅخه اخستي وي ، دعصمت ملیشی څخه یې هم یو شمیر نوي ټیپ مزدوران له ځان سره بوتلل ، نوکله چې دغو غیرنورمالو انسانانو (دعصمت ملیشه) دروسانو چنګیزي برخورد اوکړه وړه په عملي ډول ولیدل نودلته ؤ چې دوی خپل ځانونه همغسی احساس کړل لکه څنګه چې وه اوهغه یوشمیر عصمتیان چې ژوندی پاتی شول ، داحالت یې خپلو

> څرنګه چې روسانو دجنګ په ډګر کې دمجاهدینو مړانه لیدلې وه او په دې پوه وو چې که مجاهدین دشمیر په لحاظ کم هم وي کله چې دجګړې په اور ورګډشي نودغرونو په څیرښکارې ، څکه یې د دوی له محاصرې شوې حال څخه دمجاهدینو پرلور یوقدم هم پورته نکړاوبیرته ناکام اوشرمیدلي راوتښتیدل

انډیوالانو ته بیان کړنو ورو ورو یې یو په بل پسې ځانونه دحتمی مرګ څخه دنجات په خاطر دنوموړی ملیشی څخه ګوښه کول پیل کړل چې بالاخره د« ګردنه باغ بالا » پیښی څخه وروسته دعصمت څخه هسی زوړګیدړ جوړشو چې غاښونه یې هم له لاسه ورکړي وي اوپاتی ملیشی یې هم په تلك کې بندو شغالانو ته ورته حالت ځان ته غوره کړ . سره ددې چې په عمومي ډول سره داستعمار ماهیت یو اوهغه داچې دولسونو او ملتونو ښکیلاك اودهغوی دمادي اومعنوي ارزښتونوغصب کول دي خو په اشغال شویو ملتونوباندې یې په دووډولو تأثیرات اچولي .

هغو استعمارګرانو چې په ثقافتي ، علمي اوتمدن له اړخه یې نسبتاً په لوړه درجه کې قراردرلوده دټولو لوټماریو ، انسان وژنی اواسارت سره سره ، دمستعمرو په هنراوثقافت کې یې نوی خوځښت اوبدلون رامنځ ته کړی اونسبي مثبت رول یې لوبولی دی اوکله چې دغه ډول مستعمرو خپل استقلال اوخپلواکي ترلاسه کړی نو که غوښتلی یې دي اوکه نه دژوند ، هنر ، تمدن اوثقافت په ساحوکې یې نسبي مثبت بدلونونه احساس شویدي.

بل هغه اشغالګراواستعماري ځواکونه دي چې نه یوازې داچې په مستعمرو اواشغال شویو ملتونو کې یې دژوند ، تمدن اوفرهنګ په اړخ کې ترې مثبتی پدیدی ندي پاتی شوي بلکی دتمدن اوثقافت اودانساني ژوند اواړیکو بنیادونه یې له بیخه وران کړي دي .

په افغانستان کې ددې وروستي ډول اشغالګرو اواستعماري بربریت ډیری ښې نمونی چنګیزیان اوروسان دي ددغو ځناورصفتانو دتمدن ، انساني اړیکو ، هنر اوفرهنګ په ویجاړولو اوفلج کولو ، وحشت ، انسان وژنه اواخلاقي اړخ په لحاظ داسی سره نږدې دي چې دیو اوبل څخه یې جداکول مشکل اوګران کاردی ، دبیلګی په توګه کله چې چنګیزیانو په افغاني خاوره یرغل پیل کړنودبی ساري مقاومت اوستونزو سره مخامخ شول داستعمارچیانولپاره دافغانستان له لاری هند ته تیریدل کومه ساده اونامشکله مسئله نه وه اوچنګیزهم دبی ساري مقاومت اوشکستونو سره مخامخ شو نوددې لپاره چې دافغانانو سره په جګړه کې یې کم تلفات ورکړي وي ، دجګړې په وخت کې به یې افغاني مجاهدینو ته هغه دجنګ اسیران ورمخی ته کول کوم چی دنورو هیوادونو څخه یې راوستلي ؤ اوهم یې هغوی چی په افغانستان کی ورته ژوندي په لاس ورغلي ؤ خوکله چی دډیر وخت سختو جګړو اودبی ساري زړونو سره دچنګیزیانو لښکری په هند ورګډی شوی ، چنګیزته احوال ورسیده چی افغانانو خودمغولو ټول نظامي ګارنیزیونونه ترسختی محاصری لاندی نیولي اوزیات تاوانونه یی ورته اړولي دي ، چنګیزددی خبری په اوریدو سره حیران اوګوته یی په خوله کړه اوویی ویل چی افغانان خوموږ ټول له منځه وړي ؤ دابیرته بیا څنګه راژوندي شویدي همداوخت ؤ چی چنګیزپه هند کی دجګړې اوپرمختګ څخه ډډه وکړه اوبیرته راستون شو خوامریی وکړ چی داځل به دهر افغان سردهغه له تن څخه جدا کوي ترڅو چی بیاژوندی نشي هوا

هغوی همداسی وکړل اوکوم افغان مسلمان به چی شهید شو نوبیا به یی سرله تن څخه ترې جداکړ ، برسیره پردی کله چی چنګیزدهند څخه بیرته افغانستان په طرف په روانیدو شو نوخپلو سلو زرو جنګي بندیانو ته یی امروکړ چی هریو یوه معلومه اندازه وریجی پاکی کړی نوبیا وروسته ټول ازادوم بندیان ددی خبری په اوریدو سره ډیر خوښ شول اوزرزر یی دوریجو په پاکولو پیل وکړ خوکله یی چی ټولی وریجې پری پاکی کړی دیوه سره یی لیږن ودرول اودټولو سرونه یی ددوی له تنو څخه جدااویو یی هم ژوندی پری نه ښود په همدی ډول سره کله چی

په شپږم مخ کې

جهادي ادب

ولويدې ککرې ېوېربل پسې انبارشولې
لاره دغوروځنگ يې په سرو وينو ېدرگه کړله
هسې ستر طاغوت يې په مورچل کې رانسکور کړلو
دې مؤمن ولس جگه دټول امت شمله کړله

دشهيد پيغام

سيدآغا "کامل" والد

زما دوينې دهرڅاڅکي ارمان مه هيروه
دکونډو رنډو يتيمانو فغان مه هيروه
سپرمې سينه وه ددښمن بې رحمانه گوزارته
دحوصلې نه برخوردار مې ياران مه هيروه
وړی په نس خودمنزل دقافلې سالاروم
له شبگيرونه مې سره شوي چشمان مه هيروه
چې يې په سترگو کې زما دسترگو نښې ښکاري
درته پراته دي په کوڅه يتيمان مه هيروه
الوتی رنگ يې يوجهان دارمانو جوړوي
په اوښکو لوند زما دکونډې گريوان مه هيروه
که ددښمن چلونه ډير دي مستحکم اوسه ته
دارمانجنو شهيدانو کاروان مه هيروه
چې ددنيا په مخ يې ساری په تاريخ کې نشته
دظلمه ډك دادرديدونکی داستان مه هيروه
که هرڅه کړې خوښه دستاده خو زما هم واوره !
په سياسي حل کې قضاوت دوجدان مه هيروه
واوره زما نه دشهيد پيغام تکراروايمه
دکامه وال په قلم ليك دابيان مه هيروه

تکل

دسياست په گردله کې

شفيقي

هوربنتيا ! نن ماخپل سترې او لالهاند ضمير ته دمه ورکړه ، زما ضمير ارام شو ، اوچې هغه ارام شو نو زما سترې ارواهم څه ناڅه کراره غونډې شوه ، له ما نه دمودو مودو ستړيا ، پريشانی اوذهنی کشمکش لرې شو ، زما په زړه اوس يوډول سکون اوداډوډانگی غوړولی چې له ډيره هوسه مې زړه غواړی والوزم ...

زه نن دڅو شيبو لپاره له خپلې دغې دنيا نه تللی وم ، دسياست له دنيانه، دچل ول له دنيا نه، دتګی بړه گی له دنيا نه ، زه نن له دغې دنيا نه لرې شيبه بيگانه شوم ، هغه ځای ته تللی وم چې واقعيتونو پخپل شکل جلوې کولې ، هلته هغه څيرې نه وې چې نقابونه پرې غوړيدلې وی – دتزوير اومکرنقابونه ، هغه خنداگانې نه وی چې ترشايې دزهرو ډك خنجرونه پټ وی – هغه سترگې نه ښکاريدې چې په يوه کتو کې يې شيطان ته اشاری وی او په بل کونج کې دايمان کرشمې هلته ما داسی خبری وانه وريدی چې دغوړه مالۍ اوخوشامنديو مالگه مرچ پری دوړيدلی وی اوپه حقيقت کې دترخوزهرو گولۍ وي زه هلته تللی وم چې سپيڅلی کلمې دوړور– وحدت – اسلامی نظام ... نه مسخه کيدلی اونه مسخره کيدی هلته چې دورووره ! غرواورې په بدن کې دې دمينې اوخلوص داسی احساس غزونې وکړي لکه دپسرلي غر چې پر کايناتو وشي ...

زه هلته تللی وم چې نه دچا په موټر اودفتر تبصره وه اونه دچاپه هغه اودغه بل کوم مقام اوموقف ،هلته چې دمال اوپيسو بحث نه ؤ ، اصلاً دغه خبره دچاپه يادنه وه ، دچا دچل اودوکې په دوك ايستلو مجلس نه گرميده ، اودچا له تېگۍ اوتېگماری نه څوك نه غړيدل...

پنځم مخ کی

دكتاب معرفي:

هاشمي

څريکي

دکتاب نوم : څريکی
ويناوال «شاعر» : ملا اسدالله « حنيفی »
خپرونکی : جمعيت طلبه حرکت انقلابی اسلامی افغانستان ، فرهنگی اومطبوعاتی انجمن
دچاپ نيته : ۱۳۶۹ هـ ش ، لېړم
دچاپ شمير : ۱۰۰۰ ټوکه

څريکي دمجاهدشاعر ښاغلی ملااسدالله حنيفي داشعارو لومړنی مجموعه ده چې په دی وروستيو کې چاپ شوي ده .

دغه شعري مجموعه له اهداء اوله شاعرنه » ترسرليك لاندې تريو شعر وروسته دجمعيت طلبه حرکت دصدر محترم مولوي عمادالدين په سريزه پيل کيږي اوبيا په ترتيب سره دبيلو بيلو سرليکونولاندی دکتاب لومړنی ديرش مخونه دمحترم مولوي فقيرمحمد خنجري ، محترم فضل ولي ناگار ، محترم عبدالباري غيرت ، محترم شهرت ننگيال ، محترم ملنگيار ، محترم ربيح الله مجددي ، محترم اسحق نظامي ، محترم امان الله نصرت اومحترم درمحمد گوهري په سريزو ښکلي شوي دي .

دشعري مجموعه دسريزو اوفهرست په شمول (۲۳۲=۶+۳۰+۱۹۶) مخونه لري .

ترکومچې خبره دکتاب په قطعي اوصحافت پوري اړه لري دواړه دستايني وړدي البته په ځينو ځايونو ټايپي غلطيو داشعارو معنوي روح اوارخ څه ناڅه ژوبل کړيدی.

په دغه شعري مجموعه کې د(۱۲۱) بيلابيلو سرليکونو لاندې دشاعر اشعار راغلي چې دهرشعر په پاي کې نيټه اودځاي نوم درج دی .

په مجموعه کې شامل شعرونه زياتره نظمونه دي ، يو نيم شعر يې دغزل په کالب کې ويلی اوکله کله يې دآزاد شعرپه جوړولو هم دخپل شاعرانه تخيل قوت ازمويلی اوتراني يې هم ويلي دي .

دمعنی اومحتوی په لحاظ ددې مجموعې زياتره اشعاردينې جهادي رنگ لري اودشاعر ديني پوهه،بصيرت اوجهادي جذبه تری ډيره ښه څرگنديږي ، ديو مجاهد اومتعهد شاعرپه توگه يې خپل مکلفيت اومسوولیت ډيرښه پيژندلي اوټولي پيښي اوحقايق يې دخپلي ديني پوهي اوبصيرت په رڼاکې درك اودشعر په ژبه يې ټولنې ته وړاندی کړي.په اشعارو کی يې چې دهجرت دچاپيريال او دجهاد دسنگرونو اودمجاهدينو دوياړلو کارنامو کومه ژوره اورښتيني عکاسي کړې ، هغه پخپل ځاي دډيرې زياتی ستاينې وړده،دټولنې اوخلکو داصلاح اوبهبود په خاطر سالم انتقاد جايزاو په زړه پورې کاردی ، حنيفي صاحب په دغه ډگرکې هم خپل شاعرانه ځواك ازمويلي دی ، په اشعارو کی يې ځای په ځای خپل منځي اختلافاتو ، ځان غوښتنو او... ته دانتقاد گوته نيولي اودهغو اضرارا وبدعواقب يې په ډيره خوږه شعري ژبه بيان کړی دی .

لنډه داچې دحنيفي صاحب شعرونه په حقيقت کی دهغه دژوبل اودرديدلي احساس څريکي دي چې په الفاظو کی انځورشوي اوپه يوی شعري مجموعي کی زموږ مجاهد ملت ته وړاندی شوي دي .

په پاي کي زه په داسي حال کی چې دغه شعري مجموعه زموږ دجهادي ادب په ارزښتناکه پانگه يوه گټوره اضافه بولم ، دادب مينه وال او لوستونکي يی لوستو ته رابولم، ښاغلي حنيفي صاحب ته يی دچاپ اوخپروني مبارکي وايم او دلوي خداي (ج) په درباركي ورته دتوفيق اوبرياليتوب دعاکوم .(والسلام)

زه تـرې جـارشم چاچې ځان ترايمان جارکړ
سـوږخزان يې چې بـدل په شنه بهارکړ
مالـه هغو ننگيالو نه صدقـه کړې
چې اوچت يې دمؤمن پت اووقارکړ



زاړه ياران

پرديس

زه لا ژوند کومه ساه اخلمه پايم
ددرنو حجرود رانه ياران مې ولاړل
لکه شمه بليدل به په محفل کې
ښکلي ښکلي ها خواږه ياران مې ولاړل
لکه څوك چې غنچه جوړه کړې دگلو
داسې يويو هغه ښه ياران مې ولاړل
زه ترې پاتې يم په نيمه لاريوازې
دوفا په لارپاخه ياران مې ولاړل
چاپيريال مې ټول پردي دي لا بدليږي
څه شول څه شول؟!ټول زاړه ياران مې ولاړل

داستان كوتاه

روز هاى بهار

ج ـ سايل

فصل بهاران بود ، باران خوش گواربهاري چون قطرات مرواريد آهسته آهسته برزمين مى ريخت ابرهاى سپيدوسياه درفضابازى مى نمودند ، گاهى يكى وزمانى هم ديگرى چشم درخشان آفتاب رامى پوشانيدند ، صحنه خيلى دلپذير بود ، يك طرف روشنى آفتاب وبه طرف ديگردانه هاى باران به زيبايى بهار افزوده بود ، فكر مى شد هيچ چيزى نه شده است جريان عادى روزگار است.

مردم ده نيزدران روز خوشحال بنظر ميرسيدند ، چون صدا هاى فيربه گوش شان نميرسيد ، كسى مصروف كاروكسى هم مصروف تماشاى منظره روح افزاى بهاري بود .

اطفال ده كه سرماى زمستان انها رادلتنگ گردانيده بود ، اكنون ازخانه هابرامده وباهم بازى مى كردند فرياد مى زدند ، اونه ، اونه اونجه باران اس ، ببى ، ببى اوجه افتاواس ، چقه خوب مالوم ميشه ... اطفال مصروف بازى بودند متوجه شدند پسرى به سوى شان مى دود وقتى نزديك شد معلوم شد كه احمد است،بلى احمدى كه همه اورا دوست داشتند ، چون وى بچه بسيارخوب ومهذب بود ، وقتى احمد نزد پسران رسيد همه به اوخوش امدي گفتند و مصروف بازى شدند.

منزل پدراحمد ازقريه يك كمى دوربود ، درجنگ ماه عقرب روسها ومجاهدين خانه اولى شان بكلى ازبين رفته بود ، واكنون پدرش يك خانه اى حقيرى خارج ده ساخته بود ، پدرومادر احمد نيز يگانه پسرده ساله خويش را بسيار دوست داشتند ، مادر احمد هرشب براى پسرش قصه هاى شيرين مى گفت احمد دوست داشت هرشب ازمادرش قصه جديدى شنيده وفردا انرابه رفقايش بگويد مادرش به اين

بقيه درصفحه پنجم

موږ په افغانستان کې څه وليدل؟

دمسلم ژباړه

دروزنی په دوران کی «منصور» اووده ملګروته معلومه نه وه چی دوی چیرته لیږي ، خودیوه روغتون ډاکتر ده ته پټ ویلي وُ چی دده اووده دملګرو منزل افغانستان دی ، دی ډاکتر دافغانستان څخه دراوړل شوي روسي پوځي ټپیانو علاج کاوه ددی پرته به یی په داسی غونډو کی هم ګډون کاوه چی افغانستان ته دلیږل کیدونکو پوځیانو سره دخدای په اماني په مناسبت به جوړیدي منصور اودهغه ملګرویوه ورځ ددی خبری دتصدیق لپاره دمرکز له مشر څخه هم وپوښتل : چی ایا موږ ترروزنی وروسته افغانستان ته لیږل کیږو ؟

هغه وویل : ددی مرکز څخه زیات فارغ شوي پوځیان افغانستان ته لیږل شوي خودتاسو ملګري به په جلا جلا ګروپونو کي ختیځ جرمني ، هنګري ، پولیند اوچکوسلواکیا ته ولیږل شي ، ددی دروغ ویلو مقصد داؤ چی روسانو په دی ډول غوښتل دخلکو څخه هغه ویره چی افغانستان ته دتلو په لار کی ورته پیداشوی وه لری کړي ، دروزنی ترپای ته رسیدو وروسته «منصور» دخپلو نورو (۱۳۰) ملګرو سره یوځای ترکمنستان ته ولیږل شو اوددی ځایه څخه یی دالوتکی له لاری د (۱۹۸۳) کال داپریل په (۲۵) کابل ته راانتقال کړدکابل په هوایي ډګر کی دلنډی معاینی وروسته دیوه پوځي کاروان سره یوځای «جبل السراج» ته نږدی یوی سیمی ته ولیږل شو ، دلته د«بغلان» خواته یوه پوسته کي «منصور» ته دنده وروسپارل شوه په دی پوسته کی (۲٤) روسي پوځیان (٤) موټراویو ټانك وُ ، د«ټ ، ٦٢» ټانك قومانده منصور ته وروسپارل شوه ، منصور پدغه پوسته کی دوه میاشتی تیری کړی په دی دوران کی ددی پرته بله کومه مهمه پیښه ونشوه چی یوه ورځ روسان له پوستی ووتل او غوښتل یی خښ کړی شوي مینونه خنثی کړي خودمجاهدینو حملی دوی په شاوتمبول په دی پوسته کی ترندی وروسته « منصور» ته د« پل متك» ترڅنګ دتیلفون په یوه مرکز کی وظیفه وروسپارل شوه ، دنومبر تر میاشتی هغه پدغه مرکز کی وُ ددی ځای څخه یوځل پرمحمود راقي باندی دحملی امر ورکړشو ، دده دټانك ډریوري یوازینك چی عادل نومیده کوله دواړو فیصله وکړه چی دحملی په وخت کی به تیښته کوو ترزیات فکروروسته دوی پروګرام جوړکړ .

دتګ په وخت هغوی دټانك هغی برخی ته چی اوبه وراچول کیږي پټرول ورواچول کله چی دحملی ګروپ روان شو ، دڅو دقیقو وروسته ټانك اورواخیست ، منصور اوعادل دټانك څخه ځانونه راوېستل ، اوپه منډه یی ځان قوماندان ته وروسرساوه اوټول رپوټ یی ورته وړاندی کړ چی زموږټانك اور واخیست اودتللو نه دی ، موږ ته یا نورو ټانکونو کی ځای راکړی اویا اجازه راکړی چی بیرته مرکز ته لاړشو ، هغوی ته اجازه ورکړشوه چی مرکز ته لاړشي ، تریوی میاشتی پوری هغه پوځیانو چی پدی عملیاتو کی برخه درلوده ، د« کوهستان» « محمود راقي» په سیموکي دمجاهدینو سره په جنګ کی تیری کړی ، خومنصور اوملګري یي د« ګلبهار» سره نږدي په یوه پوسته کي ورځي ، شپي تیرولي .

منصور په دي ځاي کي دځان سره یوبل پروګرام جوړکر

هغه په پوسته کي موجوده وسله راواخیسته یوه وړه پنج ګیلنه یي پیداکړه اوداټول یي دتیلو دیوه «پایپ لاین » ترڅنګ پداسي ځاي کي کینښودل چي د چا وړیام نشي هغه به هره ورځ له پوستي پټ راوته دپایپ لاین څخه به یي تیل راایستل اوپرخلکو به یي خرڅول ، اوچي دپوځیانو موټربه یي ولید پټ به شو ، د(۱۹۸۲) کال ددسمبر په (۲۷) کله چي هغه پریوه افغاني موټروان تیل خرڅول دروسانو یو پوځي ګاډي راغي اوددوي ترڅنګ ودرید ، دموټر څخه یو صاحب منصب راکوزشو ، دده نوم او دځاي پته یي ولیکله اودمخابري له لاري یي په « جبل السراج » کي روسي صاحب منصب ته خبرورکړ دجنوري په (٤) یوموټر ددوي پوستي ته راغي اوده ته یي وویل مرکزته دتلو لپاره ځان چمتوکړه «منصور » وپوهیدچي دکي ، چي ، یي افرادوته یي سپاري هغه وایي : « دي خبري زما په زړه کي ویره راپیداکړه اوزه ددي بدانجام څخه دخلاصیدوپه فکرکي شوم ، موټر زه دمرکز خواته بوولم اومادهغه څخه زیاث په چټکتیا سره دخلاصون پرلاروغورکاوه ، ناڅاپه موټر دډیربیرویبارله امله پر سړك ودرید مادددي مرقع څخه استفاده وکړه دموټر څخه مي ځان راوغورځاوه اویوي خواته مي منډي پیل کړي ، ما دموټرو اوسرك ترڅنګ دبیلا بیلو شیانو په منځ کي کړي وړي منډي وهلي ترڅو دپوځیانو پرګولي ونه لګیږم مادذي فکر نه کاوه چي څوك ماتعقیبوي اوکنه ؟ ، یوه بل نفر چي منډي وهلي پرما ددریلو غږوکړ خوزه ورته ونه دریدم ، هغه ماپسي منډي را وهلي ، دڅو دقیقو وروسته هغه زه ونیولم ، اوترنیولو وروسته یي زما پر وهلو پیل وکړ ، ماپه ازبکي ژبه ورته وویل زه مسلمان یم اودروسانو څخه تیښتیدلي یم ،هغه چي داخبره واوریده وهل یي بس کړل ، هغه ماته ځیر ځیر وکتل خوماورته خپلي خبري بیرته تکرارکړي اوچي ددي اطمینان مي ورکړ چي زه مسلمان یم هغه زه خپل قوماندان ته وروستم ، زما دنیونکي نوم « حکم خان » و دمجاهدینو قوماندان ترپوښتنو وروسته زه دځان سره وساتلم .

سبا ته دي سیمي ته روسان راغلل ، هغوي دلاډسپیکر له لاري زما نښي وښودلي اومجاهدینو ته یي وویل چي دي موږ ته راوسپاري روسانو زما په بدل کي دوي ته ډیرزیات څه ورکول یوه مجاهد غوښتل زما اراده معلومه کړي ، خو ما په هرقیمت دبیرته تلو څخه انکاروکړ ، مجاهدینو د« لاډسپیکر » له لاري روسانو ته وویل چي موږبه په هیځ قیمت سره هغه تاسو ته درونه سپارو.

روسانو بیا اعلان وکړ : که مجاهدین هغه ووژني اویواځي جسد یي موږته راوسپاري موږبه یي په بدل کي زیات څه ورکړو ، خومجاهدینو دهغوي دا غوښتنه هم ونه منله ، تردي وروسته مجاهدینو زه یوي آزادي سیمي ته ولیږلم ، روسان چي زما دلاس ته راوړلو څخه مایوسه شول پرټوله سیمه یي سخته بمباري پیل کړه ، خود خداي قدرت ته ګوره چي مجاهدینو ته هیځ تاوان ونه رسید.

منصور دمجاهدینو څخه اسلامي زده کړه کړي اوداسلام له جهادي فلسفي څخه یي ځان خبر کړي هغه اوس یو باشعوره ځوان مسلمان دي ، هغهٌ وایي په افغانستان کي دنړي مسلمانان دخپلي بقا پرجګړي بوخت دي که دروسانو پښه په دي ځاي کي ونه نیول شي ټوله اسلامي نړي به ترخپلي قبضي لاندي راولي اوکه ددي ځایه څخه په ماتي بیرته لاړل نوددي ماتي تاثیرات به یي پرمحکومو اسلامي ریاستونو هم ولویږي .

منصور هم په دي هیله شپي ورځي سبا کوي .

دروسیي ټول خلك اوپه خاص ډول داسلامي محکومو ریاستونو مسلمانان پر افغانستان دروسانو دیرغل مخالف دي منصور وایي چي دروسیي خلك ددي په خاطر ددي جنګ مخالفت کوي چي هغوي داجنګ بي مقصده بولي اوداسلامي ریاستونو مسلمانان ددي په خاطر چي دخپلومسلمانو ورونو پرضد جنګیدل نه غواړي روسانو چي کوم پوځیان افغانستان ته د جنګ لپاره راليږلي په سرکي دهغوي جذبي دجنك پرخلاف زیاتي شدیدي وي خوورو ورو دوي ورسره عادي شول منصور په دي اړه یوه پیښه یادوي اووایي :« دروسانو یوغټ صاحب منصب « کوشنکن » چي نوي دروسیي څخه راغلي وُ دجنګ په ضد وُ اودپوځیانو په منځ کي یي دجنګ پرضد تبلیغات هم کول ،

دسیاست په ګردله کې ...

زه دیوه مجاهد سرته ناست وم ، دیوه ربښتیانی مجاهد ، اوما داسلام دیوغازي دپوښتنې ویاړدرلود ، ما داسې کیسې اوریدي چي دجهاد په پیل کې مې پخپله لیدلي وي.

اوزه هغه وخت داده شوم چې دسیاست له مکراوفریب ډکی ډکی دنیا شاته بله دنیا هم لاتراوسه آباده ده .

هغه دنیا چې ارادی له پولادو اوباروتو سره تندی جنګوی ایمان اوعقیده له توپو اوټانګونوسره مقابله کوی ، وینی او غوښی له ګولیو اوبمونو سره ډغرې وهي ...

هغه دنیا چې دتوپونو ، بمونو اوراکټونو غرمباغرمب اودرمبادرمب یی سازونه اونغمې دي ، دتکبیر ملکوتی نعرې یې « ملی سرود » دی اودشهادت په محراب کې سجدې یې ترټولو منلی اوویاړلی عبادت . هغه دنیا چې له مادي نعمتونونه په محرومیتونو یې لذتونه یوړه دوه وی او په ستومانیو اوزحمتونو کې یې راحتونه او فرهتونه نغښتی زه داده شوم ، ارام شوم اوپوهیدم چې ځنګل له زمری نه خالی نه وی ، هوکی زه هغه دنیا ته تللی وم دذهنی سکون اوارامی دنیا ته،خو افسوس چې ډیر ژر بیرته تری راووتم اوچې راووتم بیرته زما همغه خره پره دسیاست په ګردله کی ورکه اوپټه دنیا وه ، چی زه ، ته اوټول پکې سرګردانه یو اوپه دې هم نه پوهیږو چی آخر ترکومه اوڅه لپاره ؟!!

روز های ...سار ...

موضوع پی برده بود وی همیشه برای پسرش قصه های بزرگان رامی نمود وبدین طور فرزند عزیزش راخوش می ساخت .

وقتی احمد به پسران پیوست بازی شکل دیگری بخود گرفت اطفال ارام ارام به پیش امدند وخودرا به دور احمد رسانیدند تاازوی چیزجدیدی بشنوند ، احمد شروع کرد تاقصه های راکه ازمادر شنیده بود به دوستانش بگوید ، همه متوجه وی بودند واحمد برایشان قصه می گفت انهاازدنیا وهمه رنجهایش به دور بودند ، مجلس شان خیلی گرم بود ، وهمگی به سخنان احمد گوش داده بودند ، ناگهان صدایی ترسناکی به گوش رسید ، تیت شوید ، تیت شوید ، طیاره های دشمن رسید ، روسها رسیدند ، هرکس خودرا به طرفی مخفی ساخت،اطفال نیز کسی یکسو وکسی هم به سوی دیگری خودرا مخفی ساختند .

ولی احمد سرجایش استاده بود وبه قریه نزدیك تپه می دید خیلی عمیق نگاه می کرد دست راست خودرا نیز گهگاهی بلند می کرد ، بسیار غمگین بنظر میرسید ، اندامهایش می لرزید ومی گفت خدایا تومجاهدین رامدد کنی خدایا توحافظ شان باشی ...

مردم همه منتظر مرگ بودند، حیران بودند چه کنند، طیاره های روسی به هرطرف بمب پرتاب می نمودند ، وضع بکلی تغیر خورد همه چیزشکل دیگری بخود گرفت ، روشنی جایش رابه تاریکی داد وگردوخاك فضاً پاك رادگرگون ساخت ، منظره خیلی وحشتناك بود ، فکر می شد هیچ زنده جانی درمنطقه وجود ندارد .

ساعاتی به همین شکل سپری شد روزبه پایان میرسید وفضای خونین ان روزلباس سیاه و تاریکش رابه تن می نمود ، بعدازینکه صدای طیاره ها نسبتاً کم شد مردم ازمخفی گاها بیرون شدند ، جمع شدند تاببینند بازبرسرشان چه امده است ، لحظه نگذشت که جسد هشت تن شهیدرا ازخانه های ویرا ن بدست اوردند وقتی شهداء راجمع کردندملاودود گفت که باید قبل ازنمازمغرب شهدا رادفن کنند ، وضع شاید بدتر گردد ، جوانان ده مصروف کارشدند و قبرهارادرست نمودند وقبل ازنمازشام همه شهداء رادفن نمودند ، خاطره تلخ ان روز وتاریکی شب مردم ماتم زده وحیران بارنگ های پریده وخاك نشسته خود انسان رامبهوت می ساخت،مردم به سوی خانه های خویش به راه افتادند انها به خانه های خود نرسیده بودند که صدای راشنیدند احمد احمد جان بچیم کجاهستی ، چرابخانه نمی ایی ، پدرومادر احمد بدنبال احمد ازخانه بیرون شده بودند فکرمی کردند درخانهٔ یکی ازدوستانش خواهد بود ، انها احمد راخیلی پالیدند ولی موفق نشدند دوباره به خانه گك خود برگشتند وشب درازرابه یاد احمد عزیززنده سحر کردند ، صبحگاهان هردو برخاستند وبراه افتادند پسرگم شده شانرا جستجومی نمودند بلی احمد خود رامی پالیدند ، مادر احمد با چشمان اشك الود درکوچه های ده قدم می زد هرکسی رامی دید می پرسید احمد راندیده ای ، احمد معلوم نیست بکجارفته است ...

مادر احمد درکوچه ها قدم می زد که با دوپسرکی ازدوستان احمد روبرو شد انها گفتند دیروز احمد باما بود ، مادر احمد باچشمان پرازاشك گفت ، بچیم بگو درکجابودید ، درکجابودید پسرکها یکجابامادراحمد روان شدند وبه جای بازی دیروز خودرسیدند وگفتند : اینه احمد اینجه دیروز استاده بود ، وقتی ماصدای تیت شوید تیت شوید رادیروز شنیدیم خودرا مخفی ساختیم ولی احمد درهمین جا استاده بود ، احمد بخدااینجه استاده بود.

انجا انبارخاك بود تپه ازخاك تشکیل گردیده بود دیروز طیاره انجابمب پرتاب نموده بود ، پسرکها اصرارمی کردند همین جابود بخدا همین جابود ، بالاخره مردم مجبور شدند که خاك هاراازانجا بردارند مردم مصروف برداشتن خاك بودند که پارچه های لباس پرازخون ظاهرشد کمی بعداستخوانهای خون الود وشکسته وی رانیز اززیر خاك بیرون کردند..

دتـنـگـولـو . ربـړولـو ، اودخپلواکۍ دمبارزې څخه دلاس په سرکیلو لپاره دغه سپکه لاره ونیوله اوترخپله وسه یې دبې گناه بېبیانو بې حرمتي وکړه ترڅو کشمیریان ددوی دغلامۍ څخه سرغړونه ونه کړي .

دیوسرسري اټکل له مخې په ۱۹۹۰ ع کال کې د ۲۰۰۰ نه تر ۲۵۰۰ پورې دکشمیریانو دخویندو اومیندو عزتونه اوابروگانې توی شوي د ۱۹۹۰ کال دانسانانو په توهینولو کې کشمیر ددنیا لمړی هیواد دی ، په دغوبې شرمو کارنامو باندې دهند ژورنالستانو اود (استېرلیټمېویکلی) مستقل نماینده (سکهماني سنگه) هم داعتراض غږپورته کړ .

دغه قانون یې دزرهاو کورونو په سوځولو باندې هم ترسره اوتطبیق کړو په ۹۰ کال ددې ښکاره اوپه ډاگه ظلمونو له امله په زرهاو خلك دسرله سیوري څخه محروم اوپه عبادت خانو اوجوماتونو کې په پټیدو باندې مجبورشول دکورونو دسوځولو اوورانولو دغه سلسله یې لومړی د (سوپور) څخه پیل کړه دمجاهدینو له خولې دیوه اټکل له مخې دوادي په مختلفو ځایونو کې په ملیاردونو ، ملیاردونو روپیو تاوان مسلمان ولس ته رسیدلی چې موږ یې دلته له تفصیل نه ډډه کوو اودژوند وسوځولو خلکو شمیر

کشمیر تیر کال د وینو په ډنډ کې

د سید شهریار ژباړه

په سل هاودی دسوځوني غټه اوبې رحمه پیښه هغه وخت رامنځ ته شوه چې د ۱۹۹۰ ع کال دسپتمبر په میاشت کې د (حزب المجاهدین) او (الله ټایگر) مجاهدین یو ځای په یوه بس کې ناست اودلنگن مقام ته په رارسیدو اوروراچولای شوچې په نتیجه کې ۳۰ تنه مجاهدین ژوندي وسوځول شول .

دظلم انتها لا داچې کله یه داوروژنې عملي داوروژلو کوښښ وکړ نودې ظالمانو یه په گواښونو هغوی له دغه کارڅخه منع کول ددغې خصوصي اختیاراتو له مخې یې کشمیرپه کنډوالو بدل کړ .

خوددې هرڅه سره سره بیا هم دخلکو مینه اومحبت دازادی له غورځنگ سره زیات اوپه دې لارکې یې یو تربله دملگرتیا اوملا تړ لاسونه ورکړل .

د ۱۹۹۰ ع کال ددغه خصوصي قانون (دسرداېریاایکټ) دمارشل لا دمخې دنیول شوو نامتو مشرانو نومونه په لاندې ډول دي : دجماعت اسلامي مشر سیدعلي گیلاني ، حکیم غلام نبي دجماعت اسلامي دکشمیرخانگی امیر ، میا عبدالقیوم دتحریك حریت کشمیر مشر، محمد اشرف صحرایي لوی منشي پروفیسورعبدالغنی دعلم کنفرانس مشر ، غلام محمد بټ رئیس ، محمد یاسین ملك دلبریشن فرنټ قوماندان ،عبدالحمید شیخ دقوماندان مرستیال ، غلام حسن لون دمسلم جانباز غونډ قوماندان همایون ازاد دکشمیر دمجاهدینو قوماندان ، حسام الدین دجماعت اسلامي دعسکري څانگې مشر، کرنیل ناصر دحزب المجاهدین قوماندان ، شفیق اعجازاحمد د (اذان سرینگر) نومی ورځپاڼی مدیر اوداسې نور مشران شامل دي په ۱۹۹۰ کال کې دنومیالیو شهیدانو نومونه دادي : میرواعظ مولوی فاروق ، دعوامی مجلس عمل مشر محمد عبدالله بانگرو ، دحزب المجاهدین دقوماندان مرستیال اشفاق مجید وانی ، دلبریشن فرنټ دقوماندان مرستیال فیاض احمد دار، دایریا لبریشن فرنټ قوماندان عرفان شاه اودگروال عبدالقیوم دقاضی حسین احمد غونډ قوماندان ، قوماندان فاروق احمد خان اومحمداشرف نجار شامل دي .

دجهاد په شروع کې هندی مشرانوداپلان تیارکړ چې دمسلمانانو دغه مبارزه او جلو جهد زیات اوپراخه نشي نودازادۍ په مبارزینو باندې یې دوران کارو اوبې روزگارو خلکو توررولگاوه په ابتداکې دغه پلان ترڅه ځایه کامیاب هم شو دهند واکمنو دمجاهدینو اودکشمیردوادې دبې طرفو خلکو په منځ کې نظریاتي اختلاف راپیداکړ له دې څخه ددوی مقصد اوهدف داؤ چې دجهاد دغه تحریك سیاسی بڼه ونه مومی اودیو باهدفه غورځنگ شکل غوره نه کړی په داسې حال کې چې توپك چلوونکی دجنگ په ډگرکې ترلاسه شوی بری په سیاست کې دخامی له امله دخبرو په میز په ناکامۍ بدلوی .

د ۱۹۹۰ ع کال په شروع کې دوو سیاسی گوندونو جماعت اسلامی اوپیپلزلیگ دازادی تحریك ته دعسکری تربیت سره سره دسیاسی رنگ ورکولو زیارپیل کړ خوددی دواړو گوندونو مجبوری داوه چې دوی دسیاسی ډلو په نوم پیژندل شوی وو اوپه مستقیمه توگه دخلکو سره درابطو ساتنې اسانی ورته ترلاسه وی اوبیا په خاص ډول جماعت اسلامی خوخپلی ۳۵۰ څانگی دتعلیم ، نشراتو ، ورځپاڼو اودخلکو دخیر ښیگنو په نومونو په ټوله وادی کې خپری کړی وی نوپه ښکاره یې دعسکری تنظیمونو ملگرتیااوملاتړ نشو کولای اوبیا کله چې دهند احمقو اوناپوهو مشرانو دغه دواړه گوندونه منحل وبلل نوهغه سخته یې دوی ته آسانه کړه دجماعت اسلامی هغه ټولی اداری یې په ډیره بې رحمی سره له منځه یووړی ددې څخه سمدستی وروسته دجماعت اسلامی اوپیپلزلیگ دگډو کوښښونو په نتیجه کې د (۱۱) گوندونو اتحاد دکشمیر دازادی تحریك په نوم جوړشو نو په دې وجه دازادی تحریك دنظامی اوسیاسی دواړو لارو څخه مخ په وړاندی لاړو اوتحریك ته دیو سیاسی رنگ ورکولو څخه وروسته دهندوستان ټولی دسیسی دخاوروسره خاوری شوی .

دازادی دتحریك یو گوند پیپلزلیگ په دوو عسکری گروپونو حزب الله اومسلم جانباز فورس اوجماعت اسلامی په ٤ عسکری گروپونو حزب المجاهدین ، الله ټائیگرز ،انصارالله او البدر ترخپلی اغیزی لاندی راوستل ، اوپیپلزلیگ رحمانی گروپ هم په دوو عسکری گروپونو جهاد فورس اوجهاد اسلامی سره خپله ملگرتیا اوملاتړاعلان کړ.

ددغی سیاسی لاری نه فقط لبریشن فرنټ دپښنو څخه وغورځیدددی وجه داده چې دی گوند په وادی کې خپل نفوذ له لاسه ورکړی ؤ ځکه چې دجوړیدو څخه لاتراوسه پوری په یو څو سووځوانانو مشتمل دی خو بیا هم په گڼو عسکری عملیاتو کې چې د«جهادی گډه شورا» دگوند په نوم ترسره کیږی پوره پوره برخه لری ، دجهادی گډی شوری جوړول هم د ۱۹۹۰ کال مهمه پیښه ده چې ددې له مخی به دوادی ټول عسکری تنظیمونه په شریکه دهندی ښکیلاك مقابله کوی ددغو ټولو عسکری اوسیاسی گوندونویوځای کیدلو پدی کال کې دازادی تحریك ته غټه کامیابی وربه برخه کړه ځکه چې ۱۹۹۰ کال کې مجاهدینو په وسله والو نښتو کې هم کامیابی حاصله کړه دهند سره په چریکې جنگونو کې په دوی کې هغه وخت یو نوی روح راپیداشو کله چې یې دجون په میاشت کې پر (جهیل دل) په هندی پوځونو دراکټونو حمله وکړه ددی نه مخکې دمجاهدینو ټولی نښتی په لاسي بمونو اوکلاشینکوفونوپوری محدودی وی په سږنی کال کې په اووم مخ کې

د عصمت مسلم او د هغه د ډلې په هکله څو خبرې

په ۱۳۵۸ هـ ش کال کی پرافغانستان روسي پوځونو پوځي تیری وکړ ، روسان دمجاهدینو مقابل جگړه کی په لمړي خط اودکابل مزدور رژیم قواوی به په دوهم خط کی جنگیدل لاکن روسان په دی عمل ډیر زرپښیمانه شول اودمجاهدینو دهسی ترقونو اوتکنده بریدونو سره مخامخ شول چی روسي پوځ نه په لمړی نړیواله جگړه کی داسی کومه نمونه لیدلی وه اونه په دوهمه کی اونه یی زرو خوگانو په افسانو کي دهسی مقاومت اوزړورتوب نمونی ورته ښودلی وی دلته ؤ چی روسانو هم دچنگیزخان دبل تاکتیك څخه گټه اخستل پیل کړل هغه دا چی دکابل مزدوررژیم قواوی به یی دمجاهدینو په طرف سوق کړی اودشاله خوا به روسي عسکرې وریسی روانی شوی نودغه بدبختان به که په مخ تلل نوهلته خوبیا دزمریانو مقابله وه اوکه ترشابه راتلل نوبیا پاڼ وُ .

په ۱۳۶٦ هـ ش کال کی روسان دټولو امکاناتو سره دکندهارولایت ارغنداب ولسوالۍ دهغه غره اوغونډیو دمحاصری اودمجاهدینو دشهادت په خاطر چی دنوموړی ولسوالۍ په لویدیځه برخه کی یی موقعیت درلود خپل پوځونه مرش کړل خوپخوا له دی چی روسي عسکر ذکرشوي منطقی ته ورسیږي مزدورو قواو (اردو ، څارنلوی ، دولتي امنیت قواواودعصمت ملیشی یوشمیر منسوبینو) ته یی امروکړچی تاکلی شوی سیمی ته حرکت وکړي .

دروسانو له قوماندی سره سم نوموړو مزدوروقواو په حرکت پیل وکړخودمزدورو قواو اومجاهدینو له نږدی کیدو اوتصادم څخه پخوا روسي عسکرو نوموړی غونډۍ اوغرچارچاپیره محاصره کړل ، په دی وضعه کی مجاهدینو دشرایطو اواراضي په نظر کی نیولو سره خپل تاکتیك داسی غوره کړ چی باید دغره په لمنو کی کورونه اوکلي دموقت وخت لپاره خوشی اودمزدوروقواو دحرکت مخه ترهغوونه نیسی ترڅوچی دهغوی دمحاصری اوپاخه گوزاروړکولو لپاره شرایط نه وي برابر شوي .

خوپخوا له دی چی مزدوری قواوی نو موړو کورونو اوکلیو ته ورسیږي ، روسانو دخپلو الوتکو ، توپونو اوراکټونو په واسطه سره ددغه غره دلمنی کلي اوکورونه په داسی سرو لمبو،لوگیو اوگردونو کی پټ کړل اوداسی بمونه اوراکټونه یی پری استعمال کړل چی سخته مرگ ژوبله پکی وشوه ، نه کوم کورتری روغ پاتی شو اونه کورني ژوی . نوبیا یی مزدوروقواو ته امروکړ چی دنوموړي غره اوغونډیو په طرف حرکت پیل کړي ، همداوخت ؤ چی مزدوروقواو دهغی جملی څخه دعصمت ملیشی خپلی ربنتینی څیری په خوراڅرگندډول سره ددی صحنی په هنداره کی وکتلی اوهمداځای ؤ چی دمزدورو قواو مخ ته زمریان (مجاهدین) شول اوترشایی پاڼ (روسان) .

مزدوری قواوی غره ته لاپوره نه وی رسیدلی چی مجاهدین دمورچلونو څخه پسی راووتل مجاهدین دکمیت اوشمیر په لحاظ کم اووسلی یی غیرمدرنی وی خو مقابله دایمان اوبی ایماني وه ، داسلام اودکفر وه ، دوطن دوستي اووطن فروشي وه اودننگونو اوبی ننگیو مقابله وه نوځکه دغوکم شمیره مجاهدینو دعقیدی اوحق په زور دمزدورو قواو لښکری تارپه تاراویوځل بیا دبی ننگو اوپستانو کوپړی والوتی .

دمجاهدینو ددی گوزارونو په نتیجه کی دمزدورو قواو یو شمیر ژوندي ونیول شول ، یو شمیر یی ووژل شول اویو شمیر هسی په ترپکوشول چی پاڼ بی په نظرهمواره ځمکه ورغله

اوکله چی دروسانو نظامي کمربند ته ورسیدل نوله دی خواپری روسانو دښبی ویشتلو تمرین پوخ کړاوهرمزدوریی چی په لاس ورتللو له منځه یی وړ اووژلویی ، نوپه رښتیا چی دداسی بی ننگه ژوندیو سره همداسی بی ننگه مرگ جوړیږي ، خودهغوسرنوشت پرکوموچی وریجی پاکوي لاتراوسه په کامل ډول نه دی څرگندشوی چی روسان به دچنگیزیانو رویه ورسره وکړي اوکه دپروسترویکا په بڼه به دچنگیزیانو په پرتله بدتره جزاورته غوره کړي.

څرنگه چی روسانو دمجاهدینو غیرت اومړانه دجنگونو په میدان کی لیدلی وه اوروسان په دی پوره پوه شوي ؤ چی مجاهدین کم وي خودجنگ په معرکه کی زیات شي اوچی کله دجگړی په اور ورگډشي نوبیا دغرونو اوتوپانونو غونډی ښکاري نوځکه روسانو دخپلی محاصری څخه دمجاهدینو په طرف یوقدم هم پورته نکړاوبیرته ناکام اوشرمیدلي تری را وتښتیدل .

دعصمت ملیشی هغه څوکسان چی ژوندي خلاص شوي ؤدا بوږنوونکي اوافسانو ته ورته صحنو حال اواحوال یی نوروعصمتیانو ته بیان کړنو دټولو رگونه سست شول اویو په بل پسیٔ په یوه اوبله بهانه دملیشی په پریښودلو شروع وکړه اوشمیر یی دیوی ورځی څخه بلی ته به کمیدو شو .

نوربیا

په کویټ کې دمحصلینو ډله ئیز اعدامونه

واشنګټن : دامریکا دبهرنیو چارو وزارت دبشري حقوقو په باب پخپل کلني رپوټ کې ددې خبرې تصدیق کړی چې عراقي پوځونو دخپل وخت څخه وړاندې زېږېدونکي کوچنیان له زېږنتون نه بهرغورځولي اوووژلي يې دي داډول خبرونه دکویټ دنیولو څخه وروسته خپاره شویدي .

دبهرنیو چاروو وزارت چې خپل کوم رپوټ کانګرس ته وړاندې کړی په هغه کې ویل شوي دي چې دکویټ دکوچنیانو په روغتون کې ۷۲ کوچنیان وژل شویدي دروغتون ډاکترانو هم ددې ظالمانه عمل تصدیق کړېدی عسکرو (انکوېترو) وران ویجاړاوکوچنیان یې په فرش وغورځول هغه وویل چې ددغو ظلمونو نه وروسته مور دنړۍ نه داغوښتنه کووچی په عراق باندې باید دجنګي جرمونو مقدمه وچلولی شي په رپوټ کې دکویټ دښاریانو دعامه وژنې او دځنوسرسري اعدامونو یادونه هم شوې ده بې شمیره کویتي محصلین په ډله ئیزه توګه په مرګ محکوم شویدي اومعزورخلك هم دیوی جوړې شوې توطئي له لارې وژل کیږي ویل شوي دي چې په منځني کویټ کې (دصالح بی بی مرکز) په وژنتون باندې بدل شویدی اوددغه ځای دمړو جسدونه په روغتونونو کې ګذاروي دامیري روغتون هم داکتوبر په پیل کې ددې خبرې تصدیق وکړ چې دبی بی مرکز نه د ۲۳۰ تنو مړو جسدونه دلته غورځول شوي ؤ چې ددغو جسدونو ګوتی ، غوږونه اوپزې غوڅې شوي دي .

پاکستان خواهان پایان جنگ خلیج ازطریق برگزاري کنفرانس اسلامي است

پاکستان بازگردانیدن عساکرش ازعربستان راتحت مطالعه ندارد .

این مطلب را نوازشریف صدراعظم پاکستان بعد ازسفربه شش کشوراسلامي

خلیج وشرقمیانه که بخاطر تبادل نظر پیرامون شرایط وامکانات تأمین صلح درخلیج انجام داد ، ابرازداشت رادیو بي بي سي طي گزارش درزمینه گفت سفر نوازشریف به شش

کشوراسلامي ازجهتي مهم بود که موصوف ازنزدیك باطرز دید مردم ورهبران کشورهاي مذکور درمورد پرابلم خلیج اشنایي

حاصل نمود که بعد از جنگ کانال سویز درسال ۱۹۵٦ بیسابقه میباشد.

درگزارش امده است پاکستان همچو ن ایران واردن علاقمندنیست زیربناي اقتصادي وتخنیکي عراق نابود گردد بناء تلاش بخرج میدهد تابمباردمان عراق قطع وعراق درازاي ان ازکویت خارج گردد .

بقول رادیوي مذکور نوازشریف میخواهد بمردم خود بگوید درزمانیکه بغداد مرکز یك کشور اسلامي بمبارد میشود پاکستان نمیتواند دست زیرالاشه به تماشا نشیند ، چنانچه موصوف درین سفربه رهبران کشورهاي میزبان گفته است که انها درقبال حفظ وحدت عراق مسوولیت دارند .

طبق یك خبردیگررادیو بي ، بي ،سي : حکومت پاکستان تصمیم گرفته است تایکعده ازوزراي فدرال را به کشورهاي اسلامي بفرستد تاتلاش پاکستان را جهت دریافت یك راه حل به بحران خلیج ادامه دهند.

پاکستان ارزومند است بخاطر احیاي صلح به خلیج یك کنفرانس اسلامي برگزارگردد خبرمي افزاید: نوازشریف به چارایالت پاکستان سفرمینماید تاپیرامون فعالیت هاي انجام یافته وموقف پاکستان دررابطه به بحران خلیج ونتایج سفراخیرش توضیحات ارایه دهد .

طبق یك خبردیگر رادیو بي، بي ، سي قراراست درابنده نزدیك نوازشریف مرحله دوم فعالیت خود را باسفربه چند کشورشمال افریقا مجدداً اغازنماید.

زلزله شب جمعه گذشته تلفات وخسارات فراوان به باراورد

زلزله شب جمعه گذشته تلفات وخسارات فراوان باراورد

دراثر زلزله جمعه شب گذشته درافغانستان وپاکستان بیش ازیکهزاروسه صدنفر هلاك شده اند.

طبق یك خبررادیو بي ، بي ،سي بیش ازسه صد نفر درمناطق شمالي پاکستان وبیش ازیکهزارنفر درمناطق شمال شرق افغانستان هلاك شده اند ، خبرحاکیست که ولایات بدخشان کنر وننگرهار دراثراین زلزله صدمات فراوان دیده اند .

مسافرینکه تازه ازولایت کنر برگشته اند میگویند تکانهاي زلزله شدیدبوده ودرمربوطات ولسوالي اسماربیش ازده تن هلاك وبه منازل مسکوني صدمات فراوان عاید گردیده است .

دریك خبررادیوصداي امریکا امده است که این زلزله پاکستان ، افغانستان وبخش هاي ازروسیه وهندراتکان داده است شدت این زلزله ٦.٨ درجه بوده وتقریباً یك دقیقه دوام نمود.

زمین شناسان گفته اند که مرکز زلزله در ۳۰۰ کیلومتري شمال شرق کابل درمنطقه کم نفوس کوه هاي هندوکش بوده است .

تاس اژانس خبري روسیه گفته است که تکانهاي زلزله سبب ویراني چند منزل ولغزش زمین وقطع برق درجمهوري ازبکستان روسیه شده است .

ازتلفات ناشي ازین زلزله درهند تاحال کدام گزارش انتشارنیافته است

طبق یك خبر دیگر دراثر سرا زیر شدن سیلابها درولایات هلمندکندهار ونیمروزافغانستان بیش ازدوصد تن به هلاکت رسیده اند.

گفته شده است که این سیلابها دراثر بارانهاي غیرمترقبه سرازیرشده وموجب خسارات هنگفت مالي نیز شده است.

همچنان سیلابهاي مشابه درایران نیز سبب تلفات وخسارات گسترده گردیده است

کشمیر تیر کال ...

دمجاهدینو دګوندلونو دچریکي عملیاتو په هکله دوه ډوله نظریې موجودې وې ځنې ګوندونوددوه په دوه دجنګیدلو طریقه خپله کړې وه اوځینو دچریکي عملیاتو په طریقه عمل کړلو ، دوه په دوه جنګ یې دسرینګر دښاراوسرحدي سیمو کې شروع کړې اوچریکي عملیات په لیرو غرنیو اواوړدو سیمو کې په بریالیتوب پر مخ بیول کیږي خوپه چریکي عملیاتوکې ددوه په دوه جنګونو څخه هندي حکومت ته زیات زیان رسیدلی دی دمجاهدینو دیوالی اومنظم کیدلو څخه په وسله والو نښتو کې دېرزیات والی راغلی اودراکټ لینچرونو له امله د هندي پوځونو مورال راټیټ شوی دی دکورونو دتالاشیو اودیوه ځایه بل ځای ته دتګ لپاره دجاسوسانو څخه کاراخلي ترڅو دلارې دخطراتو اویا مصئونیت څخه خبر شي بې اجازې کورونو ته دهندي پوځیانو دننوتو راکمیدل هم د راکټونو داستعمالولو له امله شوی دی اوپه غرنیو ځایونو کې دمجاهدینو په مورچو اودېپوګانو باندې دبریدونو په نتیجه کې دمجاهدینو زیان دصفر سره برابردی په ۹۰ کال کې دمجاهدینو بریدونه دوادی ترلرې لرې لکه تنګنداراوکیرن پورې ورسیدل له بله پلوه دجمو دوه ولسوالی په بشپړه توګه اونورې شاوخوا سیمې تریوې اندازې ددوی پلو ی کوی ددی کال په اوږدو کې مجاهدینو دتولاب وادی په سیمه کې ددښمن یو عسکری هلیکوپټر درانسکورولو دعوه کړېده هندی خبری وسایلو دهلیکوپټر راغورځیدل دجوی حالاتو له امله ګڼلی ده خومجاهدینو دالوتکی په عملیاتو کې دبرخه والو نومونه اودپاکستان دملی ورځی په مناسبت هغوی ته دمډالونو ورکولو اعلان هم وکړ .

۱۹۹۰ ع کال دمجاهدینو په عملیاتو کې دلا چټکتیا اوڅرګندزیاتوالی شاهد ؤ دکشمیر خاوره دلمړی ځل دپاره له چریکی جنګونو سره اشناشوه دکال په پای کې په ځغرده ویل کیدای شی چې دمجاهدینو دعملیاتو په وجه دهندی پوځیانو ازادانه تګ راتګ ناشونی نه خو ستونزمن شوی ضروردی . دداسی حالاتو په رامنځ ته کیدلو یو تن بوډا کشمیری سوراسویلی وکړ اوویې ویل : « کاش چی نن دکشمیر مځکه اوخلك وی اوعملیات د۱۹٦۵ ع کال په یوه ورځ کې دپاکستان یو غونډ پوځیان دهند پوځونه د« بانهال » له دری څخه تمبولی شی » .

ددغه سپین ږیری داالفاظ سل په سلو کی درست دی ځکه په اوس وخت کې (٦۰) لکه مورچی دمسلمانانو دکورونو په شکل په وادی کې موجودی دی اوهره مورچه په غاصبو پوځونو اوراوروی خو که دپاکستان دبشپړتیا اود ۱۹۷۱ ع کال دماتی خوړلو دغچ اوانتقام دغه طلایی فرصت له لاسه ووت نو دتاریخ قضاء به هیڅکله هم مونږ ونه بخښی .

دروسانو ترټولو درونداعتراف ...

داسیرانو حال داسې دی چې روسان حتی دهغوی له ځای نه هم ندي خبر چې چیرې دي ، مړه دي ، ژوندي دي او په څه حال دي ؟ ګن کوفسکي دیوه روسي په حیث دافغان جهاد په هغه لوړ امتیاز سترګې ندي پټې کړې چې روسي زیات اسیران دمجاهدینو دانساني چلند،خواخوږي اوعاطفې اوداسلام دمبارك دین دمعقولیت اودرنښت په وجه پخپله خوښه مسلمانان شوي او دافغانانو په څیر ازادي لرې چې چیرې وغواړي هلته هستوګنه کولای شي اوڅوك هغه ته داسیرپه سترګه نه ګوري .

دیوه کمونست ملك اوسوپر پاور دیوه لوی شخصیت لپاره دخپلو عسکرو په تسلیمی - ناکامی اوحتی فکري اوښتون اوددښمن په لیکو کې په دریدو اوداسلام په یوه مدافع سپاهي بدلیدلو اعتراف څه اسان اوساده کارندی ، دادافغاني اوروسي جګړې اوداسلام اوکمونیزم دمقابلې په لړ کې دروسانو یولوی درونداوله عبرتونو ډك اعتراف دی چی په جوته توګه داسلام اوکمونیزم په مقابله کې داسلام لوړتیا اوسپیڅلتیا په ګوته کوي اوافغانانو ته دتاریخ دیوه بې کچه فاتح ویاړلی لقب ښښي .

جنگ خلیج واینده ...

کشوردرمنطقه منقسم اند فکرمي کنند وبا محافل سیاسي اروپادرتماس اند

این فعالیت ها ونیات بعضي کشورهاي منطقه وتعداد دیگر کشورهارادرباره عراق بعدازجنگ پریشان ساخته است چنانچه چندي قبل دولت ایران اعلام کرد که ترکیه درنظر دارد ساحه کردستان عراق را بعد ازجنگ جزخاك خودسازد گرچه این ادعاي ایران ازطرف ترکیه ردگردید اما این افکار بیشتر قوت میگیرند که ممکن است متحدین جهد، تضعیف بیشتر عراق یك کردستان مستقل براي مردم کرد عراق ایجاد نمایند که عملي شدن این ایدیا نیز براي تمامیت ایران ، سوریه وترکیه مملو ازخطر خواهد بود زیرا باایجاد یك کردستان مستقل درشمال عراق کردهاي ترکیه وایران باقبول تمام فداکاري تلاش خواهند کرد تاباکردستان مستقل یکجا گردند.

همانطوریکه اغازجنگ با عراق منبع بسا مشکلات درجهان ومنطقه شد درپایان یك جنگ خطرناك که هنوز میتواند تباه کننده وعواقب برباد کننده به بشریت باشد هم میتواند موجب ومنبع بسادشواري ها سیاسي اقتصادي اجتماعي درمنطقه گردد .

جهان اسلام باتاسف ازاغازاین جنگ براي ختم ان سخت تلاش مي کند ولي دورنماي روشني براي این زحمت ها دیده نمیشود

، امریکا بحیث طرف مقابل عراق علاوه ازانکه برعراق هزاران تن بم مي ریزد اسرائیل این نطفه خیانت انگلیسها راکه منبع همه جنگها،همه ناارامي ها وقتل وقتال درمنطقه است شدیداً حمایت مي کند درجنگ خلیج سرزمین مسلمانان میدان جنگ بوده همه مصیبت ها وهمه خرابي ها به مسلمانان وخاك مسلمانان میرسد .

بهرحال صدام حسین سرنوشت کشورتاریخي وداراي افتخارات اسلامي عراق رادربرابر یك تند باد شدید یاطوفان صحرا قرارداده است که نمیتوان افق انرا ازوراي دود هاي غلیظ وطوفان ریگهاي صحرا بروشني دید.

دخلیج جگړه داسلامي امت پرضد داستعماریوه بله حربه

صدام ددي پرځاى چي پر اسرائیلو برید وکړي ، اوداففانستان د مجاهد ولس ترڅنگ ودریږي دروس دخوښۍ له پاره دافغانستان دجهاد اومقاومت ددښمنانو په پله کي ودرید اودامریکي دخوشحالۍ له پاره يې پرایران پوځي یرغل وکړ.

صدام دافغانستان دجهاد په مخالفت اودښمنۍ کي له ټول اسلامي امت څخه ځان بیل کړاو په هیڅ غونډه اوکنفرانس کي پر افغانستان دروسانو دیرغل مخالفت ونه کړ اوپه هیڅ اعلامیه کي يې دافغانانو دجهاد دتائید اوملاتړ همت ونشو کولی .

ده دروسانو دخوشحالۍ له پاره داسلام دعظمت په لارکي دیو نیم ملیون افغانانو دویشوقربانی ته په سپکه وکتل اودکفري طاقتونو دخوښۍ په خاطر يې پوره ۸ کاله دایران اوعراق دمسلمانانو وینې وبهولې .

سربیره پردې چي صدام دعراقي ولس پرسر يې دخپل استبداد اودیکتاتورۍ خونړۍ چاړه ښخه کړې دادی پرخپل ښيا يې دکویټ پرخپلواک هیواد د پوځي وحشي یرغل له لاري اسلامي امت دیوه بل تاړاك اوویر په تغر کیناوه .

صدام نه یواځې داچي پرکویټ په خپل وحشیانه یرغل سره دیوه آزاد هیواد خپلواکي تریښولاندې کړه اوددغه هیواد ښتمنۍ يې ولوټلې بلکي دخپل دغه وحشیانه یرغل له لاري يې دمنځني ختیځ په ټوله سیمه دویر اوماتم ټادرونغوړاوه.

نن سبا چي اسلامي امت دخلیج دجگړې له امله له کوم گواښ سره مخامخ دی ددې اصلي عامل دصدام بعثي رژیم اوپرکویټ دظالمانه اوناروایرغل نتیجه ده .

نن که په سیمه کي دامریکایي پوځونو اوې جوړې دي اوکه دمتحدینو دپوځونو په نامه پردیو لښکرو داوور اوبارونو باران جوړکړی دا ټول دصدام دوحشیانه خصلت اوپرکویټ دپوځي ناروا یرغل له امله رامنځته شوي مصیبتونه دي چي داسلامي امت په کمین کي ناستو دښمنانو ته يې دا پلمه اوفرصت په لاس ورکړی چي ددوستۍ په جامه کي خپلو استعماري اوناولو عزایمو ته دعمل جامه وروااغوندي .

صدام پخپل دغه وحشیانه عمل سره نه یواځې داچي داسلامي امت له پاره دمصیبتونو اودردونو یو نوی باب پرانیست بلکي دخپل ولس دنابودۍ اوبربادۍ عامل هم وگرځید .

پدې ډول صدام هم دخپل ولس اوهم داسلامي امت پرسر دروانو فاجعو اودردونو دیواځني عامل اومسؤل په توگه داسې جنایت مرتکب وگرځید چي داسلامي امت قوت اووحدت يې له ستر تهدید سره مخامخ کړ.

پداسې حال کي چي له یوې خوا په خلیج کي دمتحدینو دپوځونو مداخله اوعملیات داسلامي امت له عظمت اوعزت سره ځرگند ټیری گڼل کیږي ورسره باید دصدام بعثي رژیم ددغه تیري عامل اومسؤل هم وپیژندل شي دکویټ دازادۍ اودعراق دبقا اووحدت له پاره دصدام دمستبد رژیم له منځه وړل اودعراق دآزاد ، ناپیلي یوموټي او اسلامي تشخص بحالي اوله سیمې څخه دپردیو قواوو وتل دخلیج دفتنې دله منځه وړلو اوحل اساسي خواوې تشکیلوي .

ښکاره ده څرمره چي دخلیج جگړه دوام پیداکوي اسلامي امت دکمزورتیا اوځپل کیدو خواته نږدې کیږي اوپدې ډول کفري طاقتونو په تیره اسرائیلو ته داچانس اوفرصت په لاس ورځي چي له اسلام اومسلمانانو سره خپلې دښمنۍ ته پراختیا ورکړي .

دکابل ښاروال کریم «میثاق» جرمني ته وتښتید

برلین :

دیولربین المللي خبرځایونو په حواله دکابل دمزدور رژیم پخوانی دمالیې وزیر اواوسنی کابل ښاروال کریم «میثاق» جرمني ته پناه وړې ده .

دغه خبرځایونه وایي دوه میاشتې مخکي دتداوي په بهانه له کابل څخه برلین ته راغلی ؤ، چي برلین ته په رسیدو يې دسیاسي پناه غوښتنه وکړه اوپدې توگه له کابل څخه په تیښته بریالی شو.

گورباچف به محافظه کاران متعصب کمونست ...

اصلاحات اقتصادي شرکتهاي خصوصي وسرمایه گذاري خارجي تهدید متوجه ساخته است جریان مذکور عقیده نیمه سرمایه داري راتقبیح وبه اداره کمونستي معتقد میباشد.

مبصر علاوه میکند : جریان مذکور به امریکا بسیار بدگمان بوده ودررابطه به همصدایي روس باامریکا دررابطه به خلیج معتقد است که این امرکمك خواهد کرد تاامریکابحیث قوه حاکم عرض وجود نماید .

درتبصره روزنامه امده است : این جریان به بوش وهمه مأیوس کننده است بوش ازکاربرد اسلحه بمقابل مردم ملکي صرف انتقاد نمود ونباید درمسایل مهم چون موضوع جمهوري هاي بالتیك معامله گري صورت گیرد .

درتبصره علاوه شده است : امریکا درسال ۱۹٤۰ اشغال جمهوري هاي بالتیك توسط روسیه را نشناخته وبرخورد وحشیانه قواي روسي درجمهوري هاي بالتیك ایجاب میکند تا امریکا پالیسي خودرا دررابطه مورد تجدید نظر قرار بدهد .

مبصر افزوده است : اگردست بسته بنشینیم مي بینیم که دوکتورین کهنه بریژنیف درروسیه دوباره احیاً گردیده وجنبش هاي ازادیخواهي بزور اسلحه سرکوب میگردد .

ادوارد شیواردنادزی وزیر خارجه سابق روسیه نیز اخطار کرده بود که درروسیه یك دکتاتوري جدید درحال تکوین است .

له کویټ څخه دعراقي پوځونو دتوغوښتنه

دناپیلو هیوادونو دتحریك ۱۰۲ هیوادونه دکویټ څخه دعراقي پوځونو دوتو غوښتنه کوي –

دهند دبهرنیو چارو وزیر(ودیاچرن شکلا) دفارس خلیج دجنگ دختمولو لپاره دناپیلو هیوادو دملاتړترلاسه کولو لپاره چین ته رسیدلی دی دبیجنگ په هوایي اډه دهند دبهرنیو چارو وزیر وویل چي زماسره دفارس خلیج دجنگ بندولو دیری غوره طرحی شته چي په هغی باندی دچیني مشرانو سره خبری اتری کول لازمي دی هغه دخپلی فارمولی دتفصیل دښکاره کولو نه دډه وکړه اوویی ویل چي دجنگ په بندولو کي به زه بری ترلاسه کړم هغه وویل چی ۱۰۲ ناپیلو هیوادونه گډ تحریك دکویټ نه دعراقي پوځونو دوتلو غوښتنه کوی اودامسئله اوس دفلسطین دمسئلی څخه نشی جلا کیدای دفلسطین دازادۍ مشر یاسرعرفات په دی ورځو کي دخلیج دجنگ بندولو په لړکي هند ته راغلی دی اوهند دناپیلو هیوادونو تحریك داوسنی مشر یوگوسلاویا سره هم په خلیج کي دجنگ بندولو په فارمولا خبري کړیدی دهند دبهرنیو چارو وزیر ودیا چرن شکلابه په روانه اونۍ کي په بلگراد کي درابللی شوی غونډې په شورى کي گډون کوی چي په هغی کي به د الجزائر ، یمن ، ایران اودیو گوسلاویا خارجه وزیران هم گډون کوي خو دناپیلو هیوادونو دامن راوستو په دې طرحه دعراق سره جنگیدونکو یو هیواد هم څه خوشحالي نه ده ښکاره کړې .

تشویش مقامات روس ازافزایش جرایم وفساد

باافزایش جرایم وفساد اداري درروسیه گرباچف فرماني داده است تاکمیته جهت انسجام فعالیت هاي پولیس درین ساحه تأسیس گردد .

رادیو صداي امریکا به نقل ازخبرگزاري تاس روسیه گزارش داد که کمیته مذکور همچنان علیه تخریبات اقتصادي حمله علیه افراد صحت وسلامت وملکیت اتباع روس مبارزه خواهد کرد .

طبق یك خبر روزنامه واشنگتن پست درائر شرایط خراب اقتصادي پنج ملیون تن از اتباع شوروي خواهان کوچ به غرب اند.

نماینده شوروي درکنفرانس مهاجرت ازشرق به غرب که باشرکت نماینده گان ۳٤ کشوردرویانا دایر گردیده بود ضمن بیانیه گفته است که درراه کاهش مصایب ودشواریهاي جاري اقتصادي واجتماعي روس همکاري سایرکشورهاضروري است .

روزنامه واشنگتن پست پیشبیني کرده است که با انفاذ قانون مهاجرت بیش ازدوملیون تن ازاتباع روسیه طي سال جاري به غرب کوچ خواهند کرد

دهیئت تحریر ترنظر لاندي
مکاتباتي پته
پوست بکس (۱۰۳۳)
یونیورستي ټاؤن پیښور
تیلفون :... (٤۱۷٤٦)

هند دامریکا الوتکوته دتیلو اچولو اجازه ورکړی

نوی دهلی ۳ فبروري :

دهند حکومت ویلي چي دوی به دامریکا الوتکو ته دتیلو اچول جاري وساتي دپنجشنبې په ورځ په «دیو استهال » کي دهند دتیلو وزیر « ستیه پرکاش مالویه » خبرنگارانو ته وویل : هند دامریکا الوتکو ته دتیلو اچولو سهولت اوآسانتیاپخپله خوښه مهیا کړی ځکه چي دهند حکومت پردې یقین لري چي داالوتکي دخلیج په جگړې کي برخه نه اخلي ، هغه ویلي امریکایي الوتکو ته داآسانتیادامریکا تردې وعدې وروسته مهیا شوه چي ددې الوتکو څخه به دخطر ناکو وسلو دانتقال په لاره کي کاروانخستل شي اونه به دخلیج جنگ کي برخه واخلي ، هغه ددې پوښتنې له ځواب څخه انکاروکړ چي آیا دتیلو اچولو څخه دمخه داالوتکي تلاشي کیږي اوکنه ؟

علل فرود امدن طیارات عراق درخاك ایران

پیلوتان عراقي بخاطري درخاك ایران فرود مي ایند که ازیکطرف میدانهاي هوایي عراق توسط قواي متحدین شدیداً صدمه دیده وازطرف دیگر پیلوتان نمیخواهند باباز گشت شان میدانهاي هوایي مخفي عراق را افشا سازند.

روزنامه امریکایي واشنگتن پست این مطلب را ازقول یك دیپلومات ایراني درملل متحد نگاشته که نخواسته نامش افشا گردد. دیپلومات مذکور گفته است که این رازراازتحقیقاتي که ازپیلوتان عراقي بعمل امدبدست اورده است .

باوجود این هم رازفرود امدن طیارات عراق درخاك ایران هنوز ناروشن مانده است وزارت دفاع امریکا اظهار تعجب نموده است که چرا عراق بهترین طیارات خود را بخاك ایران فرستاده است .

طبق یك خبر دیگر وزیر دفاع اسرائیل گفته است بارفتن طیارات سوخوي عراق به ایران تهدید حملات هوایي عراق براسرائیل ازمیان رفته است .

بقول موصوف طیارات سوخوي ۲۹ بخشي ازصدطیاره عراقي است که درخاك ایران بزمین نشسته اند. طیارات مذکور توانایي انرا داشتند که باپرواز ازمیدانهاي هوایي عراق بدون توقف وسوختگیري برخاك اسرائیل حمله نمایند

دکندز پرهوایي ډگر مجاهدینو درانه عملیات ترسره کړل

له کندز ولایت څخه رارسیدلي خبرونه وایي چي ددې ولایت سرتیرو مجاهدینو ددې ولایت پر هوایي ډگر درانه عملیات ترسره کړل چي، دهغې په نتیجه کي ددښمن دمهماتو یوه ډیپو وچاودله اودهغوی له شلو زیات افراد مړه یا ټپیان شول .

همداراز ویل کیږي چي مجاهدینو دهوایي ډگر په شاوخوا کي دررژیم دوه امنیتي پوستې له منځه وړې دي